کله چې زه د «خاد» غړوونیولم د تحقیق په خونه کې هغوی ماته سپین کاغذ او قلم راکړ چې تر څوزه پر هغې خپله ټوله سوانح ولیکم . بیا یې ماته وویل چې د خپلو دولتي ضد فعالیتو نو ټول را پورهم ولیکه . کله چې ما د هغې د لیکلو څخه انکار وکړ ، تومانچه یې راوکښله او ماته یې وویل : که چیرې په خپله خوښه یې ونه لیکې مونږ تا وژلې هم شو . زه یې د درې یا څلورو ساعتو لپاره په خونه کې یوازې پریښودم تر څو خپل دولتي ضد فعالیتو نه ولیکم ، خو کله چې هغوی له هغه ټاکلې وخت څخه وروسته راغلل مابیاهم هیڅ نه وولیکلې . ماته یې له غوسې نه په ډکه لهجه وویل چې : اوس به نومونږ تاته داسې

شکنجه او اذیت درکړو چې بیا دې هیر نه شي .
وروسته یې بیا د سهار له لسو بجو څخه د ماښام
تر شپږو بجو پورې له ما څخه تحقیق وکړ ، له
تحقیق څخه وروسته یې ماته د برقي ټکانونو په
راکولو سره شکنجه او تعذیب راکړ ، هغوی سره یو
ډول برقي ډنډه موجوده وه چې د هغې پوسیله به
یې زه د گوتو په بندونو وهلم او زه د زیات درد د
حسولو له امله په څمکه لویدلم . تر هغې وروسته
یې زه په یخو او بوکې و درولم او په هغو او
بوکې یې یو ډول کیمیاوي ماده واچوله چې د
(۳۰) یا (٤۰) دقیقو له تیریدو څخه وروسته زما
له پښو څخه پوستکي جلا شو .
هغوی زما یو عکس په دولتي مظاهرو کې زما د
گډون په حال کې ماته راوښود او ماته یې وویل
چې د دغو مظاهرو د اصلي عاملینو او محرکینو په
هکله مونږ ته معلومات راکړه ، مگر ما بیا هم په
پرله پسې توگه انکار کاوه . دغسې زما د شکنجو
او تعذیب موده تر دوو میاشتو پورې اوږده شوه
زه به یې همیشه بې خوبه کولم ، غذایي هم ډیر
کمه راکوله او په ذهني اذیت او شکنجې یې هم
تهدیدولم یوځل یې ماته وویل که چیرې پخپل
جرم اعتراف ونکړې خور دې راولو او له وهلو
ټکولو برسیره به هغه ستا ترمخ بې عفته هم کړو .
په لومړي ورځ د خاد دریوو تنو غړو چې (نظیفه ،
زرغونه او ناهید) نومیدلې له ما څخه تحقیق وکړ
د ښځو د بند د څانگې مسووله عالیه نومید له د
هغې ترلاس لاندې مؤظفین زیاتره نارینه وو .
وروسته بیا د امین او طاهر په نومونو دوه تنه
راغلل او زما په تحقیق کې یې برخه واخیسته . د
تحقیق په وخت کې به روسان هم راتلل . دوی به
کله په عسکري یونیفورم کې وواو کله یې به یې
بیا شخصي لباس په تن ؤ . د تحقیق پوښتنې به
روسي مشاورینو تر تیبولې او کله چې به یې له
مونږ څخه هر ځواب اوریده ترجمان به هغوی ته
ورژباړه .

٤

یو بل زنداني د ششدرك د خاد په زندان او
شکنجه ځای کې د شکنجو او تعذیبونو دلیدلې او
اوریدلې حالت کیسه داسې کوي :
د شش درك د خاد په شکنجه ځای کې به یې
بندي له یوه لاس اوپښې څخه په دیوال پورې
ځوړنداوه،بیا به یې د برق سیمونه د هغه د پښو په
پنجو پورې تړل ، د برق د شدت د سنجولو لپاره
مخصوص سویچ او میتر موجود ؤ ، برقي سیمانو یو
ترمینل درلود چې آخرني برخه یې په هغه ځای
پورې وصل وه چې د برق د جریان شدت یې
کنترولولی شو . د برق لین د پخواني تلیفون په
څیر ؤ چې لاستي یې د خیاطۍ د ماشین په شان

پاتې په (۵۷) مخ

فصل سوم

انقلاب بلشویزم:

نویسنده : شهید دکتور عبدالله عزام

ترجمه: آیت الرحمن

سرطان سرخ

بحث اول: گرزنیش روسیه برای انقلاب:

یهودیت جهانی، لینین راگزید تا انقلاب بلشوسیم راتنفیذ کند، لینین اصلاً یهودی است ونامش« حیام گولد-مان» بود، در دهم اپریل ۱۸۷۰م ازیك پدر یهود و آلمانی بنام« ایلکوسرول گولدمان» و ازیك مادر یهودی بنام «صوفیا گولدمان» تولد یافت و بعدها بنام « ولادیمیر ایلیچ اولیانوف» شناخته شد. برادرش الکساندر اولیانوف. درسال (۱۸۸۱م) به جرم سوء قصد به تزار روسیه« الکساندر سوم» اعدام گردید که اعدام برادرش اثرات ژرفی رادر روح اوبجاگذاشت، ازهمینرو اودر انتقام خون برادرش از ملت روس می اندیشید.

لینین چندین بار تبعید شدو سرانجام با هفت تن از یهودان دیگر در سویس یکجا شدو همه برای پیاده کردن انقلاب در روسیه نقشه کشیدند ومجله ای رابنام «اسکرا» یعنی «اخگر» به دست نشر سپر دند. وهمسرش« ترویسکایا » که یك یهودی متعصب بود، سردبیر مجله بود که ثروت زیادی از طرف ملیونر یهودی« یعقوب شیف» مالك شرکت « کوهن لوب» درنیویارك باو سر ازیر می شد. شرکت نامبرده یکی از شرکت های بزرگ « هیریش» یهودی بودکه آنرابه « یعقوب شیف» سپرد. اگر ما به کتابهای کمونیستها نظر بیفگنیم درخواهیم یافت که آنان تصمیم داشتند تا کونیزم را در انگلستان پیاده کنند ولی این هدف

بعد از نشر مانفیست درسال ۱۸٤۸م تغییر یافت،زیرا یهودیان به مناصب بزرگی در انگلستان دست یافتند وررویداد مهمی به نفع یهودیان نیز به وقوع پیوست که آن ترور اکساندرسوم در سال۱۸۸۱م در روسیه بود، به این ترتیب ملت روسیه بر ضد یهودیان بر آشفتند و تعدادی ازانهارا کشتند و یا تبعید نمودند و کشتارگا هایی از یهودیان تشکیل دادند به این ترتیب یهودیان تصمیم به انتقام از ملت روسیه گرفتند این رویداد نقطه عطفی در تغییر انظار یهود به سوی روسیه بود تا جایگاه دگرگونی انقلاب بلشویکی باشد البته یك سلسله نقاط دیگری هم در مورد رول دارد که برخی عبارت است از:

۱- یهودیان درمیان قرن نهم و دهم میلادی، دولتی درنزدیکی دریای خزر داشتند که روسیه آنرانابود کرد و یکتعداد زیاد یهودیان در داخل روسیه مسکن گزین بودند، بناً یهود وروس باهم دشمنی کهن داشتند، وحالا هم٪ ۹۰ یهودیان جهان از منطقه خزر اند، از همینرو یهودیان کلمه خزر را از نقشه های جغرافیایی دور کرده و آنرا به دریایی قزوین بدل کردند، بر علاوه اوشان واژه خزر را از همه لغتنامه ها و قاموس های اروپایی حذف کردند، تا جهان متوجه منشأ آنها نه شده و به مردم ثابت کنند که آنها همه بنی اسرائیل اند از سرزمین موعود درفلسطین طرد شده اند، وآنها حق دارند تا بار دیگر به آن برگردند.

۲- یهودیان مذهب کاتولیکی رابا براه انداختن انقلاب یهودی فرانسه در سال ۱۸۸۹م درهم شکستند، اینك خواستند تا مذهب ارتودکس را در روسیه از میان بردارند.

۳- تعداد یهودیان در روسیه زیاد است، زیرا تعداد شان در دوران انقلاب به (۶۹۴۷۰۰۰) یعنی تقریباً هفت ملیون نفر بالغ می گردید. بویژه درشهر پتر سبورگ (لنین گراد)که دهانه آتشفشان بود تعداد یهودیان فزونی داشت.

٤-مساحت روسیه پهنا وروداری ضرو تهای معدنی وزراعتی است.

۵- ملت روسیه فقیر بودکه وجدانش را به پول می فروخت.

٦-ستم تزاران و تسلط ارتودوکسها که ستم تزاران را توجیه می کرد و به انحر افشان صحه می گذاشت،و پنج تن از ثروتمندان یهود (شبسو ، لیفی، شیف، رون ومونیمر) یك هزار ملیون دالر رابه انقلاب تخصیص داده و یکملیون یهودی را بصفت کمك به انقلاب آماده کردند.

درسال ۱۸۹۷م هر تزل کنفرانسی رابرای سازمان های صهیونیست جهانی برپاداشت که برپاداری انقلاب بلشویکی در روسیه یکی از بندهای بود که صهیونیست ها در کنفرانس شان آنرا به تصویب رساندند.

درسال ۱۹۰۵م یهودیان پتر سبورگ انقلابی را برضد تزار به راه انداختند، باوجودیکه انقلاب ناکام شد، اما تزار مجبور شد یکمقدار آزادی به مردم بدهد و تعداد زیادی از تبعید شدگان و زندانیان سیاسی راعفو کرد که آنها به روسیه برگشتند تابه انقلاب کامیاب آینده نقشه طرح کنند که تروتسکی پرچم این انقلاب را برافراشت و در انقلاب بلشویکی سال ۱۹۱۷م یکی از ارکان مهم آن شد. جنگ جهانی اول به انقلاب بلشویکی سود زیادی عاید کرد زیرانیرو های منظم تزار که به دو نیم ملیون سر باز حرفه یی، تمرین دیده و مخلص به امپراطور می رسید در طول جنگ هلاك گردید نه که تنها درده ماه اول جنگ سه ملیون و هشت صد هزار تن تلفات جانی بود که نسبت این تلفات در هر ماه سیصد هزار جنگجو بود.

واین کار امپراطور روسیه را واداشت تا هژده ملیون نفر راکه اغلبیت آنها از جمله دهقانان بودند و ازنگاه سیاسی براوشان اعتمادی نبود به خدمت سر بازی جلب کند. و همچو اشخاص شکار آسانی برای آشوبگران فتنه انگیز امثال: (تروتسکی، لینین، کامنیف ویهودیان پتراسبورگ) گردید و آن دهقانان بعد ها ستون انقلاب بلشویکی و سپس هیزم آن شدند وسرانجام به سر نوشت شوم خود درجهنم بلشویزم رسیدند.

لینین با ۲۲٤ انقلابی همراهش از جمله بلشویکها داخل روسیه شدکه(۱۷۰) تن آنان یهودی بودند.

وتروتسکی باهزاران یهودی که از ارتش روسیه فرار نموده بودند، انتظار او رادر داخل مرزهای روسیه می کشید، چون در گذشته بلشویك ها ساز مانهایی دانشجویی را سازمان داده بودند در ۱۷ اکتوبر سال

۱۹۱۷م دست به انقلاب بلشویکی زدند وبه این ترتیب روسیه شکار بلشویزم شد و یهودیان اعلامیه ذیل رابه رؤ سای، اتحادیه های جهانی یهود صادر کردند:

« ای یهودیان ! ساعت پیروزی کامل ما نزدیك شده است و ماالان در شامگاه روزی قرار داریم که رهبری جهان را بدست گرفتم ، مابه کرسی قدرت د روسیه دست یافتیم، روسها رهبران ما بودند، اینك بردگان ما گردیده اند»

مبحث دوم

انقلاب بلشویزم ویهود:

انقلاب بلشویزم از نقطه نظرتفکیر، پلان، تمویل و تنفیذ یهودی بود، چه، فیلسوف و مفکر آن نوه حاخام یهودی. (مرد خای مارکس) بود. همچنان لینین که گفتار های مارکس راواقعیت دادو همراه با انقلاب اکتوبر د روسیه پیاده کرد و جنبش کمونیستی رابه نوشته های خودیاری داد او هم یهودی بود.

درفیصله بنی بیرث(یهودیان) در سال ۱۹۳۹م آمده است که:

« ما روح انقلابی رهایی بخش دروغین را درمیان ملت های دیگر پخش کردیم تا آنهارا به دست برداشتن از ادیان شان قناعت دهیم، حتی کار را به جایی رساندیم که از اعلان تعالیم ادیانشان احساس شرم و خجالت کنند، و مادر اقناع تعداد زیادی با اعلان کردن علنی الحاد شان وعدم ایمان به آفریدگار موفق شدیم و آنهارا گمراه ساختیم تابه افتخار اعلان دارندکه آنها اولاد بوزینه ها هستند (فرضیه داروین) سپس به آنها نظریاتی راپیش کردیم که محال است به ژرفای حقیقی آن دست یا بند که آن نظریات عبارت ازکمونیزم و انارشیزم است که به مصالح و اهداف ما خدمت میکند.

تمویل کمونیزم نیز طوریکه یاد آوری کردیم از طرف یهودیان صورت می گرفت. و« دهکده بروکلن» که در ناحیه شرقی نیویارك قرار دارد، صحنه نقشه کشی برای انقلاب بودکه تروتکسی آنرا بعهده داشت، تا اکنون هم آنجا مرکزپلان گذاری های یهودیت جهانی برای نابودی بشریت است.

درهفته اول انقلاب اکتوبر فیصله نامه ای که دوبند داشت صادر شد که به مسأله یهودیان ارتباط می گرفت:

۱- دشمنی بایهود ، دشمنی با نژاد سامی تلقی گردیده و مرتکب آن قانوناً مورد شکنجه قرار می گیرد.

۲-اعتراف به حق یهود در برپاداری یك میهن ملی در فلسطین.

نخستین دفتر سیاسی انقلاب بلشویزم:

> ... جنبش کمونیستی برای زنده کردن خرافات و اساطیرکهن یهودی که غبار سالهای دراز برآن سنگینی می کرد تلاش می ورزد . و این کار دلالت روشن دارد براینکه جنبش کمونیستی تنها سردرگمی در کوره راههای خرافات بسنده نکرده، بلکه میکوشد خرافات را به صحنه بیاورد ، تا این خرافات پرده ای باشد که همه کینه ها و بیماری های روانی و شهوات پست در عقب آن پنهان باشد ، آنهم برای رسیدن به حکومت .

این دفتر از هفت نفر تشکیل یافته بود که پنج تن آن از طرف والدین یهودی بودند.

۱- لینین که یهودی بود و همسرش (کرویسکایا) نیز یهودی بود.

۲- تروتسکی که یهودی بود.

۳- کامنیف که یهودی بود.

٤- سوکولنکوف که یهودی بود.

٥- زینو نیف که یهودی بود.

کمیته امور خارج	٦٤	٤٥
کمیته امورخارجی	۱۷	۱۳
کمیته مطبوعات	٤۲	٤۱
کار داران بزرگ	٥۳۲	٤۲٥

طوریکه دیده میشد ۸۰ ٪ مؤظفین را یهودیان تشکیل میدادند کمیساری (کمیته مرکزی حزب کمونیست) درزمان لینین بدینگونه

شاید خوانندگان گرامی گمان بردکه این کار دراغاز انقلاب بود، امانه، تاکنون هم همین کار ادامه دارد. در سال ۱۹٦٥ یك نویسندزن روسی بنام « نیناالیکسیوا » نوشت که تعداد یهودیان در اتحاد شوروی (روسیه) ازیك درصد مجموع ساکنان کشور تجاورغی کند، در حالیکه ٦۰٪ هیأت تدریسی ادر انیستیتوت های

(وابسته) نظامی روسیه در پاریس برای خبرنگار جریده معاریف چاپ اسرائیل تصریح کرد که‌اسلحه‌ایکه ما دراختیارجمهوری‌متحد عرب میگذاریم برای اغراض دفاعی است وما هرگزاستعمال آنرا برضد اسرائیل جواز نمیدهیم ، بناءً شما از سیاست های روسیه در سرزمین های عربی پریشان نباشید این سیاست متمم امنیت اسرائیل وبلکه برای امنیت آن ضروری است . ومطمئن باشید که اتحاد شوروی (روسیه) درپهلوی اسرائیل است . و امروز و فردا آنرا تائید میکند ، طوریکه دیروز آنرا تائید می کرد

٦-ستالین که همسرش بود و تنها او یهودی نبود.

ج: مبحث سوم: دولتی که لینین درسال ۱۹۱۸م آنرا تشکیل داد.

و نخستین کابینه آن بعد از انقلاب بدینگونه بود:

وظیفه	تعداد اصل	یهودیان:
وزیران	۲۲	۱۷
اداره جنگ	٤۳	۳٤

بود

سال	تعداد اصلی	یهودیان
۱۹۲۰	٤٥۷	۳۲۲
۱۹۲۱	٥٥۰	٤٤۸
۱۹۲۲	٥۲٥	٤٤٥

ودرزمان ستالین در سال ۱۹۳٦ در کمیته مرکزی ٥۹ تن عضویت داشتند که ٥٦تن آن یهودبودند.

عالی و دانشگاه ها و ۸۰٪ را از جمله مسئولین تر بیتگاه های ایدئولوژیکی در حزب و سیاست خارجی تشکیل میدهند . معاون صدر اعظم ورئیس مجلس اقتصادی کشورهر دو یهودی اند . جریده لوموند چاپ فرانسه در ۲۰ اپریل سال ۱۹۷۱ م نوشت «رهبری استراتیژیکی نیروهای مسلح شوروی (روسیه) در دست

یهوداست»

وتاکنون هم اسرائیل ۶۰٪ از صادرات کشاورزی و ۴۰٪ صادرات کیمیاوی و ۵۰٪ از صنعت های گوناگرنان خود رابه روسیه اروپای شرقی وبویژه به یو گوسلوایا صادر میکند. وشاید برخی از فریب خوردگان گمان می برند که اسلحه ای راکه روسها به عرب ها میدهند بخاطر از بین بردن اسرائیل باشد، این برداشت، اشتباهیست که تصریحات آشکار روسها آنرا ردمی کند.

در ۲۲جون ۱۹۶۴ آتاشه (وابسته) نظامی روسیه درپاریس برای خبرنگار جریده معاریف چاپ اسرآئیل تصریح کردکه :مابا عربها درمبارزه شان بر ضد استعمار و ارتجاع عربی همکاری داریم و اسلحه ایکه‌ما در اختیار جمهوری متحد عرب میگذاریم برای اغراض دفاعی است وما هرگز استعمال آنرا برضد اسرائیل جواز نمیدهیم، بناءً شما از سیاست های روسیه در سرزمین های عربی پریشان نباشید. این سیاست متمم امنیت ا سرائیل و بلکه برای امنیت آن ضروری است. و مطمئن باشید که اتحاد شوروی (روسیه)درپهلوی اسرائیل است. وامروز و فردا آنرا تائید میکند طوریکه دیروزآنرا تائید میکرد وباید شامطمین باشید مابخاطری به سوسیالیزم عربی کمک میکنم که برای مصلحت اسرائیل است طوریکه این کمک به مصلحت ما شوروی هاهم است.

ریمون ارون استاد مضمون« ساینس در مدنیت معاصر» درمؤسسه علمی کلژ دوفرانس میگوید:...... جنبش کمونیستی برای زنده کردن خرافات و اساطیر کهن یهودی که غبار سالهای دراز برآن سنگینی می کرد تلاش می ورزد. واین کار دلالت روشن دارد براینکه جنبش کمونیستی تنها سردرگمی در کوره راههای خرافات بسنده نکرده، بلکه میکوشد خرافات رابه صحنه بیاورد ، تا این خرافات پرده ای باشد که همه کینه ها و بیماری ها روانی وشهوات پست درعقب آن پنهان باشد، آنهم برای رسیدن به حکومت.

د- مبحث چهارم: درهمه انقلابات کمونستی جهات یهودیان دست دارند درصفحات گذشته ازسیطره یهود برانقلاب بلشویکی و بالای روسیه روشنی انداختیم. در انقلاباب دیگری که در سرزمین های مختلف به وقوع پیوسته است نیز دست دارند.

۱- درمجارستان (هنگری)

درسال ۱۹۱۹ بیلاکون یهودی که نام اصلی اش هارون کوهین بود دست به انقلاب زد. بیلاکون فساد کاری های زیادی رابه ملت مجارستان به ارمغان آورد. او دوشیزگان زیبارا در خیابانهای عمومی برهنه می کرد و به سربازانش دستور میداد تا برآنان تجاوز کنند وسپس آنهارا کشته و در دریای دانوب می انداخت.

درسال ۱۹۴۵م مجارستان بار دیگر بدست کمونیستها افتاد که «راکوزی» به قدرت رسید. راکوزی که یهودی بود اورا دوستش ستالین فرستاده بود. مجارستان دردهه ششم قرن حاضر میلادی ازطرف سه تن از یهودیان اداره می شد.

آن سه تن یهودی عبارت بودنداز: راکوزی، فاس وجیرو.

۲- در یوگو سلاوی:

تیتو شاگرد یهودی معرف«موسی بیگدا» دست به انقلاب زد.

۳- در رومانی: «انابوکر» یك بانوی رعنای یهودی انقلاب رادر رومانی رهبری کرد که پدر قصاب وبرادرش تاکنون در اسرائیل زندگی میکنند.

۴- درلهستان:

کارهای عمده بدست سه تن یهودی بنامهای: مینك، ماویسکی و بورمان اداره میشود.

درچکسواکی:

« وودلف سلنسکی» که یکنفر یهودی بود در آنجادست به انقلاب زد.

آنچه ماراجع به احزاب کمونیستی دراروپا یاد آوری کردیم بر حزاب کمونیستی درجهان عرب نیز صادق می آید، اخرابیکه یهود درعقب آن بودند واین عمل هم ازیهودیان با آن مکروخبث شان شگفت انگیز نیست.

دقوماندانانوشورا به اوسنی منځ ته راغلی رکودمات اووضع بدله کړي

کرسچن ساینس مانیټرورځپاڼې په خپلې یوې تازه ګڼې کې، دافغان مجاهدینو دقوماندانانو دشورې په باره کې یو مضمون خپورکړی دی، مونږ ددغه مضمون غټ غټ ټکي ترجمه کړيدي له دغه مضمون سره د ادارې توافق شرط ندی.

دکرسچن ساینس مانیټر ورځپاڼې خبریال "سیلاتیف" لیکلي دي :

دمجاهدینو قوماندانانو دغه امیدونه زیات کړیدي چې دافغانستان په مقاومت کې چې ديوه بن بست او رکود له حالت سره مخامخ دی یو نوی قوت راپیدا شي .

ورځپاڼه لیکي د مجاهدینو، تقریبا " (٥٠) تنه قوماندانانو چې هم د کابل د رژیم نه کرکه لري او هم ئې دمجاهدینو، له موقت حکومت نه زړه تورد ی تیره میاشت یوه غونډه وکړه دافغانستان د چارو دکتونکو په عقیده کیدای شي چې قوماندانان په افغانستان کې اوسنی منځ ته راغلی رکودمات اووضع بدله کړي .

قوماندان عبدالحق چې په، دی ډله قوماندانانو کې شامل دی وائي مونږ کومه بله سیاسي ډله نده جوړه کړې اوزمونږ هدف داندی چې خپل وطن ته یو، بل سرخوږی پیداکړو مونږ نه غواړوچې په ملك حکومت وکړو، مونږ فقط غواړو چې ددی‌اوسنی بحران نه خپل وطن وباسو.

"کرسچن‌ساینس مانیټر" لیکي: کیدای شي چې دغه‌د قوماندانانو نظامی اتحادسیاسي اثرات هم ولري ،دمقاومت سیاسي اړخ را ژوندی کړي او، په نهایت کې د انتخاباتو دتر سره کیدو سبب شي .

دلویدیځو هیوادو یو دیپلومات وائي: دقوماندانانو شورئ به پدی ډیره مهمه‌وي‌چې، دهغه وخت نه چې روسان د افغانستان نه وتلی دی،دمجاهدینو خپل مینځی نښتی‌او اختلافات زیات شویدی‌په موقت حکومت باندی انتقادونه‌کیږي‌دي، او ددی ټولو ستونځو نتیجه دا ده چې نجیب په قدرت کې پاتې دی . . .

ورځپاڼه په پای کې لیکي: د مجاهدینو دقوماندانانو ددی، شورئ‌تنظیمونکي وائي: امید د ی چې دپنجشیر قوماندان احمدشاه "مسعود" او نور قوماندانان به، هم دی غونډی ته خپل نمایندګان راولیږي .همدارنګه داحمد شاه "مسعودخپرونو هم د دا ډول یوی شو ری جو ړول مؤثر او ضروري ګڼلی دی .

مونږ د خپل سیېځلی هدف په لار کی د ترڅو چې یو مجاهد هم ژوندی وی، تر هغی چې په افغانستان کی به هیڅ دول

د بیدار ډایجسټ چلوونکي ښاغلي ملک سرور دانصار المسلمین له یوه څوارلس کسیز وفد سره دښاغلی آصف احمد په مشرۍ افغانستان ته سفر کړي او دمجاهدینو له نوماند قوماندان الحاج مولوي جلال الدین حقاني سره یې دمقاومت د روانو حالاتو به هکله مرکه کړي چي مونږ یې پښتو ژباره درنو لوستونکو ته وړاندي کوو: (اداره)

پوښتنه: داخباري خبرونو له مخي داسي ښکاري چې روس ، امریکا او پاکستان د افغانستان دربړي دحل په رابطه توافق ته رسیدلي دي تاسي پدي اړه څه نظر لري؟

ځواب : روس او امریکا د انتخاباتو په نوم یو داسی پروګرام او په اصطلاح حل په افغانانو تپل غواړ ی چی په هغه کی ظاهرشاه،د روس ګوډاګی نجیب ، شهنوازتنی او د هغه ملګری برخه ولرلی شی . دا به یوداسی مخلوط او په اصطلاح پراخ بنسټه حکومت وي . چی په هغه کی به مجاهدین هم برخه لری اود افغان ولس قاتلان یعني کمونستان هم پدی کی بهٔ روس امریکا او هندوستان د خو ښی سړي ظاهرشاه هم ګډون لريځو مجاهدین به په هیڅ توګه دا ډول حکومت ونه منی .

روس ،امریکا او هندوستان په افغانستان کی د اسلامی حکومت له ټینګښت څخه ویره لري ځکه خــــو دوی په اصطلاح د وسیع البنیاده یا مخلوط حکومت د جوړیدوله لارخه غواړي دجهاد اثرات او لاسته راوړنی سپوتا ژکړی.

افغان ولسدیو نیم ملیون شهیدانو وینی د کوم مخلوط یا په اصطلاح پراخ بنسټه او شیطانی حکومت لپاره ندي توي کړي ، افغان ولس دا یوولس کلن دردونه او کړاونه د کوم ګوډاګی او سیکولر حکومت په خاطر ندي زغملی ، افغانانو د خپلو شتو او خپلوانو قربانی ددي لپاره نه ده ورکړي چی ظاهرشاه اود هغه پڅیر له بی خاصیته او سیکولر عناصرو سره مخلوط حکومت جوړکړي

دا ټولی قربانی او دا ګرد کړاوونه ددي لپاره زغملی شویدي چی په هیواد کی یو سوچه اسلامی حکومت ټینګ شی . داسی ښکاري چی روس امریکا او ځینی نور هیوادونه ددغه پالیسي په اړه یو نظر لري،دوي غواړي چی په

هیڅ‌ړا د فشار او دښمنی پروا نه کوو.

زموږ په بدن کی د وینو یو څاڅکی هم پاتی وی شیطانی او نیم شیطانی نظام ونه منو.

افغانستان کې یو داسي مخلوط حکومت تهینګ شی چی د روس امریکا دواړه واجنټ وي. له همدي امله له پاکستان څخه د مهاجرینو د ایستلو او مجاهدینو ته د ستونزو پیدا کولو هڅي کوي او لدي څخه یي هدف دادي چې په افغانستان کی په هیڅ ډول د اسلامی حکومت د قیام لپاره حالات مساعد نشی .

پوښتنه: په اوسني وخت کی مجاهدینو ته د مرستو سلسله څه ډول ده؟

ځواب : وسله خو دا ډیره موده کیږی چی مجاهدینو ته نده رسیدلی، نوري مرستی هم د نشت برابر ګرځیدلی، زه خپله دا ډیره موده کیږي وسله او مهمات په بیه اخلم .

پوښتنه: آیا اسلامی هیوادونو هم خپلې مرستی بندې کړيدي؟

ځواب: د اسلامی هیوادو مرستی هم د نشت برابر دی، د اسلامی هیوادونو له خوا چی څه مرسته کیږی هغه د حکومتونو له خوا نه بلکی د اسلامي شخصیتونو او تنظیمونو له خوا کیږی . په هر حال دا ډیره د افسوس خبره ده چی موږ منزل ته نژدي شوو، په موږ مرستی بندی کړای شوې .

پوښتنه: پداسي حالاتو کی به تاسی جهاد ته څه ډول ادامه ورکړئ؟

ځواب: موږ جهاد د الله تعالي په ډاډ پیل کړي ؤ ، په پیل کې له موږ سره حتي ټوپك هم نه وو. خو الله تعالي زموږ ستونزي حل کړي اوس به هم موږ د الله تعالي په تکیه جهاد جاري ساتو او تر هغه به مقاومت ته دوام ورکوو چي کفر او باطل په بشپړه توګه له منځه نه وي تللی ، موږ د خپل هدف په لار کې د چا پروا نه کوو، تر څو چي یو مجاهد هم ژوندي وي، تر هغي چي زمونږ په بدن کې د

وینو یو ځاځکی هم پاتې وي په افغانستان کی به هیڅ ډول شیطانی یا نیم شیطانی نظام او حکومت ونه منو .

ځواب:الحمدلله د جهاد په سنگرونو کې د مجاهدینو تر منځ بشپړ اتفاق اواتحاد موجود دی داد مجا هدینو د اتحاد نتیجه ده چې تر غابنونو پوري په

اوسوي مړی ته سخت ضرورت لري اوورته سترگی په لاره دي خوله پیښور څخه پرله پسي د بنگلو دکرایو اولکسو موټرونو داخیستلو

حکمتیار زما ورور دی له هغه سره د ملاقات لپاره زه هر ځای چی وی تللو ته تیاریم، خو د شهنواز تنی لاسونه چی زموږ د ولس په وینو سره دی، زه خپل لاسونه د هغه له لاسونو سره څنگه ولگوم؟

پوښتنه: که پدي وخت کی په افغانستان کی د مقاومت پرمجموعي بڼه څه رڼا واچوئ مهرباني به مووي .

ځواب : لکه مخکي مي چي وویل مجاهدین د وسلي له نشتوالی سره مخامخ دی.په بارکونو او پوځي مرکزونو کې پرکلابند پوځونو چې د حملی لپاره‌دکومی وسلی او مهماتو ضرورت دی هغه له مجاهدینو سره نشته د غذایي موادو کمښت یو ه بله ستونزه ده ،خولدي سره سره په کندهار،غزنی،گردیز،کابل،ننگرهار او نوروسیمو کی جنگ جریان لري ددښمن پوځونه د مجاهدینو له خوا پرله پسې له ما تو سره مخامخ کیږي او تسلیمیږی، ددښمن الوتکی رانسکوریږی او سیمې یې له لاسه وځی.

پوښتنه : د مجاهدینو تر منځه اتحاد څه ډول وینئ؟

وسلو پټ دښمن له خپلو بارکونو او پوځي مرکزونو څخه د باندي نشی راوتلی،خود پیښور وضعه مایوسه کوونکی اودردونکې ده، چی دا پرمجاهدینو اود مقاومت په لیکو هم ناوړه اغیزه کوي‌که خداي مکړه وضعه همداسي ادامه پیدا کړي.نتایج یې سرتر پایه د جهاد اوولس په ضرر تمامیږي. زموږ د مشرانو تر منځ دځان غوښتني ستونزي ورځ په ورځ زیاتیږي، هر مشر اوگوند په بل پسي ناوړه تبلیغات کوي اود اقتدار لپاره د مسابقې حالت روان دی، څوك د تنې پراوزو کابل ته د رسیدو لیواله دي او څوك د نجیب سره د داډول لوبي په لته کي دي او ځني نور د ظاهر شاه په امید شپې سبا کوي. کومي لږي مرستي چې رارسیږي هغه هم په سمه توگه نه مصرفیږي، دهیواد دننه قوماندانان او مجاهدین یوي سرې دوه‌ړخه

خبرونه رارسیږي....

زما اونورو قوماندانانو غوښتنه ده چي عبوري حکومت د ې دمجاهدینو لپاره مرستې په جهادي چارو اومجاهدینو ولگوي ، اختلافات ختم کړي او متحدانه فعالیت ته ادامه ورکړي.

پوښتنه: دعبوري حکومت تر علانیدو وروسته یوکال اودري میاشتي تیري شوي په دغه موده کي عبوري حکومت دجهاد په لړ کي کوم متحدانه پروگرام عملي کړي؟

ځواب:عبوري حکومت د شوي پریکړې له مخي داخل ته خپل دفترونه ونه لیږدول نو هغه څه ډول دیوه متحدانه پروگرام لپاره قدم اوچتولي شي، که عبوري حکومت دشوراد فیصلوپه اساس کارکړي واي نه به اختلافات رامنځ ته شوي وو اونه به لدي موجوده دردوونکي حالت سره

مخامخ کیده. اوس هم زمونږ غوښتنه ده چي عبوري حکومت خپل دفترونه داخل ته منتقل کړي اودګوډاګي رژیم پر ضد دمتحدانه فعالیت او عملیاتو لپاره قدم پورته کړي.

پوښتنه: ویل کیږي چي دخوست کلابند پوځونو مجاهدینو ته د تني له لاري تسلیمدل غوښتل خو ستاسي مجاهدینو داسي شرایط درلودل چي د خوست فتحه یي وځنډوله؟

ځواب: دا زما پرخلاف دهغو خلکو پروپاګند دي کوم چي په یواځي توګه دالوتلو شوق لري. زه او زما مجاهدینو هیڅ داسي شرط نه دي ایښي چي دهغي له مخي دوی دغه ډول پروپاګندوکړي.

په پکتیا کي د ټولو جهادی تنظیمونو قوماندانانو ګډه او متحده فیصله کړی په دغه فیصله حزب اسلامي دخالص صاحب په مشری، حزب اسلامي د حکمتیار صاحب په مشری، حرکت انقلاب اسلامی؛ اتحاد اسلامی اونورو تنظیمونو قومندانانو لاسلیکونه کړی،خو پروپاګند کوونکی عناصر د مجاهدینو دغه مثالی اتحاد تخریبوی؛پداسی حال کي چي پدغه پریکړه د دوي عمومی قوماندانان لاسلیك کړي دي.ټولو قوماندانانو کلابند پوځونو ته دخپلی فیصلی له مخی وویل چی تاسی په تیرو اعمالو پښېماني ښکاره کړئ اوتوبه وباسئی ، درندي وسلی او دولتی تأسیسات مجاهدینوته وسپارئ البته سپکی وسلی به درسره وی اود مجاهدینو ترقیادت لاندی به کار اوفعالیت کوي. ځینو غوښتل چي خوست به د شاهنواز تنی له لاري

په پکتیا کی د ټولو جهادی تنظیمونو قوماندانانو ګډه او متحدانه فیصله کړی او په خوست کی کلابند پوځونو ته یی اعلان کړی چی که په تیرو اعمالو پښیمانی څرګنده کړئ نو سپکی وسلی ستاسی خپلی دي، خو درندي وسلی او دولتی تأسیسات به مجاهدینو ته سپارئ او اعلان به کوئ چی د مجاهدینو تر قیادت لاندی کار او فعالیت کوئ مجاهدین به تاسی ته په خپل څنګ کی ځای درکوی.

ونیسی پداسي حال کي چي شاهنواز تنهی ونشوای کولی پوځونه تسلیمیدوته اړکړي .

دا حلقی ددې په ځای چی خپله اشتباه اوغلطي ومني اوذاتی غرضونه شاته کړی هغوی پروپاګندونو ته.لاس واچا وه او دهمدغه تبلیغاتو او پروپاګندونو له امله د مجاهدینو متفقه اعلان هغه سره دملاقات لپاره زه هر ځای ته تللو ته تیار یم خو د شاهنواز تنهی لاسونه چې د مجاهدینو په وینو سره دي زه خپل لاسونه دهغه له لاسونو سره نخنکه ولګوم.

پوښتنه : که چیرې شاهنواز تنهي ستاسی مرکزته د ملاقات لپاره راشي بیا هم تاسی له هغو سره نه ګوريُ؟

ځواب: څوك چی دچاکورته ورشي له دی دا ډول مهرونه د مجاهدینو د دوکه کولو لپاره لګول کیږي.

د نجیب رژیم له نسکوریدو او د سلامی حکومت د قیام تروخته په افغانستان کی امن او سوله نه شی راتلای. مجاهدین به هیڅکله د روس ، امریکی طرحی او پروګرامونه ونه منی اوپه الله تعالی د توکل اوډاډ په اساس به جهاد جاري وساتی.

افغانانو د یو نیم ملیون شهیدانو وینی د کوم مخلوط یا کوم بل شیطانی حکومت لپاره نه دی توی کړی،افغان اولس دا یوولس کلن دردونه اوکړاونه د کوم ګوډاګی او سیکولر حکومت په خاطر ندی زغملی او د خپلو شتو، سرو نو او خپلوانو قربانی یی د دی لپاره ندی ورکړی چی له ظاهر شاه او یا نورو سیکولر، ملحدو، او بی خاصیته عناصرو سره مخلوط حکومت جوړ کړی.

اوفیصله بی اغیزی وګرځول شوه.که دغه ډلی پرذاتی غرضونو د جهاد اوولس ګټهوته ترجیح ورکړي وای زمونږ پوخ باوردی چي خوست به حتمی فتحه شوی ؤ.

پوښتنه : ویل کیږی چي حکمتیار له تاسې غوښتنه کړي وه چه له شاهنواز تنی سره وملاقات وشي خو تاسی له دغه ملاقات څخه ډډه کړي وه؟

ځواب : حکمتیار زما ورور دی له هغه سره نه لیدل داسلامی روایاتو اوښتنی عنعناتو خلاف کاردی.

پوښتنه-: دمجاهدینو د بیرته ستنیدو لپاره د ملګرو ملتو له خوا د (سلام) په نامه د جوړ شوي پروګرام له مخې د مجاهدینو په راشن کارتونو مهر لګول کیږی پدی باره کی تاسی څه نظر لري؟

ځواب- داهم د افغانستان د جهاد پرضد د روس اوامریکا یوه ګډ سازش

پوښتنه- : مجاهدین او مهاجرینو ته څه پیغام لريُ؟

ځواب-:مجاهدینو ته زه دا ویل غواړم چی د مرستو د بندیز له امله اندیښنه ونه کړی پس الله تعالی د خپل توکل او ایمان له مخې جهاد ته ادامه ورکړي ، د الله تعالی مرسته هیڅکله نه بندیږي اوهغه (ج) دحق په لارکې جنګیدونکی بندګان یواځې نه پریږدي خو کله ناکله الله

تعالی خپل بندگان ازمویي او امتحان کوي. دوسلی او مرستو د بندیز دا موجوده ستونزې هم یوه ابتلاء وگڼی اوله صبر او استقامت څخه کارواخلی.

هیڅ په دول د بیرته ستنیدود تو- طئوښکار ونه گرځی د نجیب رژیم له نسکوریدو اود اسلامی حکومت له قیام پرته ستنیدل دیوولس کلن جهاد

وی جهاد جاري ساتي-دامن اوسولی د دروغجنو طرحو له مخی که د روس او امریکا د گټو د ساتنی په خاطر د کوم مخلوط حکومت لپاره د ملگرو ملتونو

مجاهدین بایی د مرستو د دبندیز له امله اندیښنه ونه کړی او په اللّه تعالی د ایمان او توکل له مخی جهاد ته ادامه ورکړی. د اللّه تعالی مرسته هیڅکله نه بندیږی او د حق په لار کی جنگیدونکی بندگان یوازی نه پریږدی، خو کله نا کله اللّه تعالی خپل بندگان ازموی او امتحان کوی یی، د مرستو د بندیز دا موجوده ستونزه هم یوه ابتلا وگڼی او له صبر او استقامت څخه کار واخلی. زه خپل قهرمان ولس ته اطمینان ورکوم چی د نجیب مزدور رژیم نسکوریدل او د اسلامی حکومت قیام یقینی دی.

زه د وی ته اطمینان ورکوم چې د نجیب‌رژیم نسکوریدل اواسلامی حکومت قیام یقینی خبره ده.له مهاجرینو څخه زما هیله داده چی په

اوقربانیو له خاورو سره د برابرولو معنی لری.

دریمه خبره زه سازشي عناصرو ته کوم اوهغه داچې مجاهدین به په هردول چی

پو حُونه هم مداخلت وکړی افغانان به دهغوی پرضد هما غسی جهاد کوي لکه د روس اودهغوی د گوډاگیانو پرضد یي چې کاوه.








محمد عمر اثر

ټانک په تعرض کې

ټانك دبلوك په چوكاټ كې تعرض كولى شي او هم په ځانګـــړى توګه محاربوى وظايف تر ســـره كوي .دپياده موتريزه توپچــــى قوتونه په مشتركه مرستى ســـره، ددښمن آتشداره وسايط اوځاند- اره قواوې له منځه وړى.ددښمن سره دمستقيم تماس تعرض پـــه صورت كې دټانك قوماندان خپله، وظيفه دبلوك قوماندان څخه د اراضي په مخ اخلي او هـم د حركت له حال څخه په تعر ض كى دټانك قوماندان قاعدتـــا " خپله وظيفه دبلوك قوماندان څخه دسيمى اويا داراضي په مخ اخلي دا وظيفه دهجوم خط تـــه د رسيدو سره سم تدقيق اومطالعه كيـــږى .

دتعرض دترتيب اوتنظـيم په، وخت كى دزمان او امكاناتوپــه، صورت كې دټانك قوماندان پـه خپله اويادريور دټانك د اراضي كشـف او مطالعه كوي .

د اراضي دكشف او مطالـــعى په وخت كې دښمن مطالعه د اتساع انبساط خط محاربوى خط په دقت سره مطالعه او كتنه يې وكړى .استقامت دهجوم اوهغـه محلات چې ددښمن پـه موانعو كې معبر خلاصيدى شي هغـــه مطالعه او علامات يې خپل ذهن تـــه وســـپاري .

دټانك قوماندان د وظيفـى اخيستلو په وخت كى دبلوك وظيفه دهمجوارو او زمان دحاضريـدو، تعرض ته مطالعه كوي د وظيفـى د مطالعى څخه وروسته وضعيت محاكمه قرار اتخاذ او محاربوى، امر دټانك مرتبا توته وركوي .

د تعرض اجرا : ددشمن سره دمستقيم تماس په تعرض كــــى ټانك د اور له موضع څخـــه د مقاومت په محل كى راپورتــــه كيږى . اويا د انتظار له موضع څخه نظر په اشاره "قومانـــده" هجوم خط ته پيشرفت كوي .

ټانك چې داهدافودله منځه وړلو لپاره تخصيص وركړې شوى، وي د احضاراتو اور په خـط، كى نظر په امر د قوماندان داور موضع ته چى مخكې احضارشوى وى مواصلت كړى او هغه اهداف چى ددښمن د مدافعى پــــه اصلى كرښه اويايه عمق دمدافعى

او یادمدافعی‌خط ته نژدې وی، ورسودل کیږی هغه تخریب اویا لـه منځـه یوسـی .

دنورو ټانکونو د رسیدو سره سم یو ځای پر دښمن هجـوم وکړی او دمحاربوی وظایفومطابق خپل فعالیت ته نظر په اشار ه "قومانده" دوام ورکوي .

دحرکت پر حال تعرض پـه جریان کی نظر په تثبیت شوی، زمان دټانك قوماندان د هجوم خط ته وړاندی ځـی د اتساع، او انبساط په وخت کی دټانـك قوماندان خپله واسطه دامرشوی استقامت پخوا وړاندې بیایي .

دحرکت په جریان کـــی د مرتباتو اومحلی شیانو تدقیق‌کوي

کله چه ټانك د تثبیت شوي‌خط څخه عبور وکړی اویاهم دپیاده موتریزه جزوتامونو د محاربوی ، نظام څخه عبور وکړی پـــه انداخت باید شروع وکړی اوپـه ضمن کی خپل محل ته دبلوك، دمحاربوي نظام څخه تغیر نــه ورکوي . ټانك ددښمن دموانعو څخه په هغه ترتیب چه قوماندان دبلوك ورته ذکر کړی وي اوهغه معبر چې ورته تخصیص ورکـړی، ترې وي عبور اجراکوي . د، موانعو څخه دعبور په وخت کی دټانك مرتبات د توب،ماشیندار، انداخت دشمن په ځانداره او، آتشداره وسایطو اجراکړی پهاول نوبت کي ددښمن‌ضدټانكوسایط، چې جناحي اور اجراکوي هغه له منځـــه یوسـی.

ټانك ددښمن په مدافعــه کې د اور او زنځیرونو په وسیله رخنه خلاصه په سرعت سرمخپل پیشرفت ته دوام ورکوي.

دتعرض په جریان کی‌دټانـك، قوماندان مکلفیت :

ـ دښمن‌او اراضي پوره ترصـد، کـــړي .

ـ مناسب استقامت دحرکت لپاره انتخاب کـــړی .

ـ دوامداره ارتباطد قوماندا ن سره وســاتي .

ـ دهمجوارو ټانکونو فعالیت د پیاده جزوتامونو قوماندان‌اشاری تعقیب کړی .

ـ هغه دښمن چی د قوتونو د پر مختك مانع ګرځی نظر پـــه اشاره دقوماندان پیاده او یاپه مستقله توګه اجراکړی .

ـ د انداخت شروع نظر پــه اشاره په اول نوبت کی ټانــك، باید ددشمن ټانك او ضد ټانك وسایط له منځه یوســـي .

دټانك قوماندان خپل تر صــد، باید چارپیر تأسیس او اجراکړی نور مرتبات باید دخپل ترصد، په شرید کې دوامداره ترصــد اجراء کړی .

ټانك ددښمن د مدافعيپــه عمق کې دطبعي او ضد ټانك، موانعو څخه عبور اجراء کوی . اویا د موانعو څخه "دور"اجراء کوي د قوماندان موافقه شرط ده که چیری عبور او یا دوردموانع څخه نا ممکن وي ټانك دتوقف له حال څخه خپل انداخت ته ادامه ورکوي. دمحلی اشیاوءاو طبعی پوشونو څخه په استفادی سره ستروا خفا اجراءدمعبر د خلاصیدولپاره زمینه استحکامچیانو ته برابره کړی .

وروسته ټانك په سرعت سره لــه معبر څخه تیریږی او خپل ځای په محاربوی نظام کې اشغالوی په ورکړل شوی استقامت کـــې تعرض ته ادامــه ورکـــوي .

په مسموم شوي مناطقو کـــې دټانك قوماندان خپلو مرتباتوته مخکې له مخکې دګاز دماسکـــونو اغوستلو قومانده ورکوي.

ټانك خپل ځای په محاربوي نظام کې چی امر شوی نوی‌نه، پریږدی په هغه صورت کې چې نور ټانکونه له منځه ولاړشـــي ټانك په بل بلوك او ټولی‌پوری، الحاق کیدای شـــي ـ اوخپلی محاربې ته دوام ورکوي .

دتوقف اویاصدمې په صورت کې:

دټانك مرتبات دتوقف له حال، دښمن امحاء اوپه عین زمان‌کی د عوارضو او صدماتو د رفـــع کولو تدابیر اتخاذ کړي.

ټانك متقابله هجوم کوونکی‌دښمن دنورو جزوتامونو او ټانکونو پـــه، مشترکه مرستې سره دسریع اور، پواسطه امحاکوي .او یا نظرپه، امر دقوماندان مناسبه موضـــع اشغال کړی . دتوقف په حـــال کی د اور په اجرا سره دښمـــن ته تلفات ورکړي .او وروســـــته هجوم پری وکړي . که چیر ې، دښمن رجعت وکړی ټانك بایـــد هغه فورا "تعقیب کړی‌ترڅودښمن په قطار کې خلل پیدا کړي‌او د زنځیر پواسطه ددښمن تـــول، قطار تخریب کړی .

الحاج مولوی نظام حقانی له "میدیا" سره په مرکه کی

افغان ولس له مجاهدینو پرته

د بل چا حکومت نشی منلی

پوښتنه: محترم مولوی صاحب که د افغانستان د جهاد پر اهدافواوراتلونکی څه رڼا واچوئ ډیره مهربانی به مو وي.

ځواب:

بسم الله الرحمن الرحیم

د پیغمبر (ص) د مبارك حدیث له مخی جهاد د قیامت تر ورځی دوام لري په افغانستان کی چی هر وخت کوم بی دینه او مزدور حکومت رامنځ ته شوی نو افغانانو یی په مقابل کی جهاد شروع کړی دی لکه د انگریزانو د تیری په وخت کی افغانانو د هغوی په مقابل کی جهاد شروع کړ او تر هغه وخته یی ادامه ورکړه تر څو یی انگریزانو ته ماتی ورکړه او آزادی یی وگټله بیا کله چې د ظاهر شاه د حکومت په وخت کی د خلق او پرچم کمونستو باندونو د اسلام پرضد تبلیغات جاری کړل نو زمونږ د ولس مؤمنو علماؤو یې په مقابل کی د مبارزي اعلان او شروع وکړه او کله چی په افغانستان کی د روسانو په حمایت او ملاتړ الحادی کودتا وشوه او کمونستان قدرت ته ورسیدل نو د افغانستان مؤمنو خلکو د علماؤپه فتویٰ د هغوی په مقابل کی وسله وال جهاد پیل کړ او روسانو او د هغوی نوکرانو ته یې شرمیدلی ماتی ورکړه،نو دا جهاد به تر هغې پورې جاری وی ترڅو چې په افغانستان کی د روس گوډاگیان او ټول فسق او فساد ختم شی او پرځای یی اسلامی حکومت جوړ او اسلامي شریعت جاری شي.

پوښتنه: د جهاد په جریان کی ډیر تنظیمونو رامنځ ته شوي دی چی دوی لاتر اوسه د حکومت دننه یا د حکومت نه د باندی سره متحد شوی نه دی په دې برخه کی ستاسی نظر څه دی؟

ځواب: د تنظیمونو یووالی ته ډیر ضرورت دی ځکه ترڅو چی یو شوی نه یو-تر هغې پوری بریالتیوت ته نه شو رسیدلي. بل دا چې د یوه هیواد د پاره یو مشر کافی وي نه (۷) او ... مگر دوی چی اتحاد نه کوي دا د مجاهدینو خوښه نه ده او مجاهدین پدی ډیر خوریږی، خو دوی د خپلو شخصی گټو په خاطر او د بعضو هغو خلکو د شرارتونو له مخی چی د

تنظیمونو په شاوخوا را ټول شوی دی خو د زړه له کومی نه غواړی چی واقعی اسلامی حکومت ټینګ شی. اتحاد تر اوسه عملي جامه نده اغوستی، بلکه دا چې ټول کفری هیوادونه او حتی ځیني تش په نوم اسلامی هیوادونه هم په افغانستان کی‌یو اسلامی حکومت طرفدار نه دی.

پوښتنه: په دی وختوکی د صدرالدین آغاخان د پروګرام تر عنوان

هر ورځ دغه سیمی هدف نیسی، نو له دی اړخه د مهاجرینو ستنیدل ممکن نه دی او که څوك فعلی کمونست حکومت ته ورځي نو بیا خو د هغه عقیده د کفر عقیده ده او د هغوی په ډله کی شمیرل کیږی نو اول خو مهاجرین تر هغی پوری وطن ته نشی ستنیدلی تر څو چی په افغانستان کی یو اسلامی حکومت جوړ شوی نه وی او بل دا چی قوماندانانو هم دا فیصله کړیده چی مهاجرین به تر

خاطر چې هلته د هغه ځای اوسیدونکی د مهاجرینو پرضد راوپاریږی او مجاهدینو ته مشکلات پیدا کړی.

پوښتنه: مولوی صاحب په تیرو څو ورځو کې د ستری محکمې رئیس پیر سید احمد ګیلانی د انتخاباتو یوه طرحه اعلان کړه چې د هرې منطقی خلك دی پخپله خوښه په هره طریقه چی وی خپل نماینده ګان انتخاب کړی او د منتخبی شورا د پاره یی وټاکي

> *مجاهدین د تنظیمونو په اختلافاتو ډیر خوربوی او په ټینګه غوښتنه کوي چې ژرترژره اختلافات ختم کړي او تنظیمونه یو متحد دریځ او قیادت رامنځ ته کړي.*

لاندی د مهاجرینو د بیرته ستیندو له پاره هلی ځلي کیږی تاسي داکار څنګه ګڼئ او آیا ستاسی منطقو ته تراوسه پوری مهاجرین ستانه شوی او که څنګه؟

ځواب: علماؤو دا فتوی صادر کریده چی د فتنې د ځای څخه او د هغه ځای څخه چی هلته څوك د اسلام ارکان نشي په ځای کولی هجرت فرض دی او کله چی څوك هجرت وکړی نو بیرته به هغه وخت ستنیږی چی په هیواد کی د اسلام قانون او حدود نافذ شي. بله خبره دا چی د اوس له پخوا زیات د دښمن بمباری او د سکډ توغند یو حملی رواني دي او

هغی پوری نه راځی تر څو اسلامی حکومت جوړ شوی نه وي.

پوښتنه: اوس ستاسی په ولایت کی د دښمن له خوا سیمی بمباري او د سکډ په توغندیو ویشتل کیږی او که څنګه؟

ځواب: اوس زمونږ په منطقه کی ۲۴ ساعته بمباری کیږی او سکډ توغندي هم ویشتل کیږی او د تعرض په وخت کې خو بیا ډیر سکډ راویشتل کیږی. دا پنځه کاله کیږی چی خوست محاصره شوی دی او په دغه موده کی دښمن هره ورځ حتمی بمباری کوي تر دی چې کله کله د پاکستان خاوره هم بمبار کوي په دی

دا انتخابات به د افغانستان په داخل کی د تاکلی نیتهی سره سم شروع کیږی او دوه میاشتی دوام کوي تاسي د دغی طرحی په هکله څه نظر لری ځکه مخکې داسی انتخابات شوی وو ولی نماینده ګان شوراته حاضر نه شول؟

ځواب: انتخابات دوه اړخونه لری یو د اسلام له نظره او بل د کفری دنیا د جوړو شویو قوانینو له مخې. عمومی انتخابات په اوسني وخت کې چی فسق او فساد زیات دی صحیح ندی او عملی نه ښکاري. په اسلام کی به حل او عقد د هیواد مشر انتخابوي همدارنګه مجاهدین داسی یو قوی او متحد ارګان

نه لري چې د انتخاباتو پر وخت د راولاړېدونکو لانجو او ستونزومخنیوی وکړي.

پوښتنه: محترم مولوی صاحب ستاسی په نظر په تیرو دولسو کلونو کی د افغانستان علماؤو ولی په تنظیمونو کی اتفاق او اتحاد نه دی راوستی؟

ځواب: تر اوسه پوري علماؤ ته صلاحیت نه دی ورکړی شوی او که چیری د تنظیمونو د مشرانو له خوا لازم واك او اختیار ورکړی شی او پریکړه یی ومنل شي دا کار دومره گران نه دی.

پوښتنه: ستاسی په نظر به په افغانستان کی سوله،ارامي او امنیت څنګه راشي تر څو جنگ ختم شی، افغانستان ودان، اسلامی قانون نافذ او خلك د ټولو تکلیفونو څخه خلاص او په پوره امنیت کی ژوند وکړی؟

ځواب: الله (ج) فرمایی چې ستاسی د پاره مې اسلامی قانون خوښ کړی دی او همدغه اسلام ستاسې له پاره په دنیا او آخرت کی د نیك بختۍ او سرلوړی باعث دی، نو اسلام ته چې چا غاړه کیښوده که هغه په خارج کی دی او که په داخل کی نو هغه نیکمرغه دی کله چی په افغانستان د مجاهدینو اسلامی حکومت جوړ شی، هلته بیا دا ټول مشکلات او ربړی اواریدلی شی لدی پرته تر څو پوری چی کمونستان په قدرت کی وی نو د امنیت او ارامی راتلل ناممکن او محال دی.

پوښتنه: پدغو وروستیو ورځو کی د افغانستان پخوانی پاچا په ایتالیا کی اعلان کړی چی د تنظیمونو رهبران باید له مشرۍ نه لاس واخلي او د افغانستان د سرحداتو د ساتنې او د ځمکی د تمامیت ساتلو او په هیواد کی د یو واحد حکومت د جوړولو د پاره دې سره یو ځای شی تاسی د ده اعلان څه دول ارزیابی کوئ؟

ځواب: د ظاهر شاه د دغه اعلان څخه دوه نتیجې راوځی یو دا چې که ظاهر شاه غواړی چی بیا قدرت ته ورسیږی نو دا نشی کیدی ځکه په افغانستان کی فسق او فساد، بی ستري او کمونستي د ده په وخت کی منځ ته راغلی ده او کله چی داؤد قدرت ته ورسید نو همدغه ظاهر شاه ورته مبارکی وویله خو اوس د مجاهدینو د عبوری حکومت مخالفت کوی له بلی خوا ده له مجاهدینو او مهاجرینو سره هیڅ دول همدردي نه ده کړی، د شهید او زخمی پوښتنه یی نه ده کړی د مجاهد او مهاجر سره یی نمشریکی نه ده کړی نو دی په کومو سترگو د ځمکی د تمامیت خبری کوي. په داسی حال کی چی د ځمکی تمامیت د ده د غلطو پالیسو او منفی سیاستونو قرباني شوی دی. خو که چیری ظاهر شاه دا نظر ولری چی زه د افغانستان یو فرد او مسلمان یم خو گناه می کړی او په خپل جرم او تیرو تنو اعتراف وکړي. او د هغی د جبیره کولو کوښښ وکړی نو دا کار د ده له پاره ښه دی خو یوه خبره ده چی حکومت به هغه څوك جوړوی چې جهادیې کړی، قربانی یې ورکړی، روسانو ته یی ماته ورکړی او وسله وال جنگ یې گټلی دی. افغان ولس له مجاهدینو پرته د بل چا حکومت نشی منلی.

پوښتنه: څه موده د مخه نجیب په

اصطلاح علماؤو او سپین ږیروته پخپلو خبرو کی وویل چې که په ما څه انتقاد ولری وېلی شی هغه وو چی د سپین ږیرو له خوا ورته وویل شول چی ږیره به پریږدي، حج به کوی او پټکی به په سر کوی نو که چیری نجیب دا کاروته وکړي د اسلام له نظره به د ده تیرگناهونه معاف او توبه به یی قبوله شي که څنگه؟

ځواب: زموږ پوخ باوردی چي د ده دا ډول مکارانه او غولوونکی تبلیغات د ولس په سترگو کې خاوری

اسلام معتقد ندی بیا څنگه ډیری حج او... خبرې کوي نجیب همدا اوس د روسانو په ملاتړ د افغانستان په مظلوم ولس بی دریغه بمباری کوي په سکډ توغندیو یې ولي، جوماتونه ورانوي او بیگناه مسلمانان په شهادت رسوی د نجیب توبه هغه وخت قبلیدی شــــی چی خپل ځان او قدرت مسلمانانو ته حواله کړی نو د هغه وروسته د هغه ږیره پریښودل ورته گټه لرلی شی خو افغانان پوهیږی چی دی د ولس د وکه کولو د پاره دا

د پکتیا په ولایت کی قوماندانانو د افغانستان د روانو حالاتو په باره کی یوه غونډه کړی وه تاسې په دغه غونډه کې حاضر وی او که نه،که په دغه برخه یو څه معلومات راکړئ ډیره به ښه وی؟

ځواب: زه په دغه غونډه کې حاضر نه وم ځکه زه مریض وم خو په مخکینو مشورو کې وم، د دې شورا له پاره دا ډیره موده کوښښ کیده او هدف یی دا دی چی عبوری حکومت مجبور کړی کومه فیصله چې په

د تنظیمونو یو والی ته ډیر ضرورت دی ، تر هغی موږ بریالیتوب ته نشو رسیدلی چی متحد نشو. دیو هیوا دله پاره دیوه مشر ضرورت وی نه د (۷) او ......

نشي اچولی .اودده جنایتونه او کفر نشی پټولی نجیب چې له سره په

دول مانوری اجراء کوي.

پوښتنه: پدی وروستیو وختونو کی

مدینة الحجاج کې شوې ده چې حکومت به افغانستان ته داخلیږی او



وروره محمد یعقوب شریعت یار دپنجاب له وزیر اعلی میانواز شریف سره دافغانستان او کشمیر په روانوحالاتو خبرې کوي .

هلته به خپلې چارې سرته رسوي او دفاع وزارت به د هغو قوماندانانو څخه چې په ولایتونو کې قدرت لري یوه کمیته جوړوي،هلته به اکمالات کوي، مصرف به کوي او کنترولوي به یې.خو تراوسه پورې د اختلافاتو او شخصي گټولـه کبله دا یو کارهم نه دی شوی نو په دغه وجه قوماندانان مجبور شول چې سره راټول شي او عملي قدم پورته کړي. حتی خلك دا تبلیغات کوي چې دا قوماندانان یو بیل سازمان جوړوي خو دا بالکل

سره یې ډیر وخت ونیو او قوماندانو فکر کاوه چې ماته به تسلیمیږي نو چا پرې جنگ نه کاوه نو حکومت ته چانس پیدا شو او خپل ځان یې یوڅه قوي کړ.

بل دا چې له مجاهدینو سره دومره مواد نه شته چې جنگ ته مسلسل دوام ورکړي خو انشا الله مجاهدینو چې اوس کوم تاکتیك په لاره اچولی ډیر ژر به خوست تسلیم کړي.

پوښتنه: پدې ورځو کې د روس او امریکا مشران سره لیدنه کوي چې په

راشي هغه حکومت نه شي کولی څکه هغه به پوځ لـه کومه کړي او که روس امریکا یې ورکړي نو بیا خو حال داسې درواخله لکه د روسانو.مونږ د امریکا، روس انگلستان او نورو حکومتونو نماینده حکومت په افغانستان کې نشو منلی. او زمونږ خلکو کې یو نیمگړتیا ده چې هغه اختلاف دی که چیرې دا مشکل حل شي او مونږ متحد شو بیا د هیواد آزادی او د اسلامي حکومت قیام حتمي خبره ده. هلته بیا نه روس څه

څوک چې هجرت وکړي نو هغه وخت به ستنیږي چې په هیواد کې اسلامي قانون او حدود نافذ شي، د اسلامي حکومت له قیام پرته د مهاجرینو ستنیدل او د امنیت راوستل نا ممکن دي.

دروغ دي بلکې دا قوماندانان د تنظیمونو په مشرانو زور اچوي ترڅو اتحاد او یووالی وکړي.

پوښتنه: د خوست د نه تسلیمیدو و علت څه دی؟

ځواب: لکه څنکه چې معلومیده چې خوست بتسلیم شي ولی مکار نجیب د خوست بعضې ناپوهو او ساده کسانو او ملکانو ته پیسې او ټوپك راولیږل او ورته یې وویل چې زه خوست پرېږدم او مجاهدین دې خپل حکومت جوړ کړي او د مرگ ژوبلې مخه دې ونیول شي چې په دغه تبلیغ

دې لیدنه کې به د افغانستان په باب هم خبرې وکړي که چیرې توافق ته ورسیږي او د افغانستان آزادي اعلان کړي نو تاسې د سنگر قوماندانان به په دې کې څه اقدام وکړئ؟

ځواب: ما مخکې هم وویل چې مونږ جهاد د عقیدې له مخې پیل کړی دی مونږ د روسانو خبره د زور له لارې نده منلې او مقابله مو ورسره کړي نو مونږ به تر هغې جهاد کوو تر څو یو سو چه اسلامي حکومت جوړ کړو.

نوکه د روس او امریکا په خوښه څوك

کولی شي او نه امریکا اونه....

په اسلام کې
په حل او عقد د
هیواد مشر
انتخابوي

جهاد دشعر او ادب په پلوشوکی

وفايارمنگل

عظیم فخر

د ننګ په کارنامو یې نن جـــــهان فخر کوي
واړه دي که زاړه دي هم ځـوانان فخـــــر کوي

که بورې دی، که کونډې وراړې هم ورباندې ویاړي
قسم دی په نامه یې یتیمان فخـــــرکوي

کسات او بدل اخلي له دښمن نه دخپل وروڼو
پدې مجاهده یې شــهیدان فخـــــرکوي

دخدای (ج) نظام به جوړکړي او قرآن به کړي حاکم
لر- بر ورباندې ټول مسلمانان فخـــر کوي

انشاالله زولنې به یې دپښو لاسو کـړي لیرې
پراته په جیلخانو کې پرې بـندیان فخر کوي.

ویجاړې کندوالې دآبادۍ په انتظار دي،
په توره د مؤمن په هر زمـــان فخـر کـوي

راسخه عقیده لـــري دټینګ عزم خاونددی
دمینې ولولې یې په ایمان فخـــــرکوي

چې ځوک په خپلواکۍ دخپل وطن باندې مین وي
زمونږ په توریالو هغه انسـان فخر کوي

دخاورې هره لویشته دشهیدیه وینو سره شوه
دځمکې په عظـیم فخـر آسمان فخـر کوي

ښکیل شوي ملتونـه یې له خوبه کړل راپورته
هـریو په پاك جهاد نن د افغان فخـرکوي

ټرلې ملاوې ټول دحق مورچل په لور کواښـیږي
پدې پاکه تګلاره ماشـومـان فخـر کوي

که سل ځله سوزیـږي خو به سرو لمبو کډیږي
قـربان له پاکې مینــې پتـنګان فخـر کوي

دا ستا په ترانـوکې رښتیا وایـم وفایاره!
قلم دې په لیکلو د دیوان فخـــر کوي

استاد خلیلی

آزادی

افسوس که در قسمت ما شادی نیست
جز رنج وغم وجفا وبربادی نیست
علم وهنروصنعت ونیروونظام
این ها همه هیچند چو آزادی نیست

* * *

حیران خټک

تسله

افغانه روره خفه کېږی به نه
د حق د لاسه په شاکېږی به نه
منم چی ته نن دالحاددلاسه
د جبر و ظلم استبداددلاسه
دخپل وطن نه در په در ګرځی
ځیری ګریوان او لیمه تر ګرځی
منم چی تاسره ظلمونه کیږی
په تا هم رنګ رنګ ستمونه کیږی
دتا په وینو لاله زار دی وطن
نن په پنجه کی داغیاردی‌وطن
منم چی ستاپه وطن اور وریږی
په هره خونه په هر کوروریږی
خوای افغانه میړنی افغانه!
ای غیرتمنه ننګیا لی افغانه!
ستا حوصلوته داظلمونه څه دي
ستا ارادوته قد غنونه څه دي
لوړو جذبوته سنګین‌غرونه څه دي
حق پرستانوته دارونه څه د ي
ته دایمان په مینه مستیادیږ ی
ته د غیرت ناموس حستن‌نومیری

تاسره مل د خدای نصرت دی وروره
ښکاره غلیم تنه دجرأت دی وروره
تاوته کفر تینګیدی کنله شي
د ستا په لارکی اودریدی کله شي

تهٔ خو معلوم تولو قانونوته یی
تهٔ خوښکاره هم جهانونوته یی
تاد خالق یه‌دین‌چی ننګ کړیدی
کفرباطل سره دجنګ کړیدی

دسر او مال دځه پرواونکړه
په دی با ئیلات د هیڅ ژړا اونکړه
کفن په سرد خون اسلام‌په خاطر
د دین وطن د ننګ او نام‌په خاطر

تادعمل په میدان ګام کیښود
دحق بیرغ د په هر بام کیښود
افغانه تاد خپل ایمان‌په جذبه
دحق دګتهی او تاوان په جذبه

علیم ته سترګو کی دسترګی ورکړی
که ارادی د ورته در په در کړی
ځکه دښمن درنه په شا تمیږی
د تینګی نه دی اوس به خودستیږی

آخر بری به په الحاد ومومی
کابل به بیا یوځل آباد ومومی
ماته ښکاریږی چه بهاربه راشی
بیا د ځوانئی په تاهم‌واربه راشی

دتا دښمن به شرمسار درومی
ستاله وطن به په کوکاردرومی
خو
افغانه وروره خفه کیږی به نه

لنډه کیسه

س.م.د

خدایه ما شهید کړی!

« خدایه ما شهید کړی! .... »
داهغه جمله وه چی د سنګر ملګرو یې له هغه نه څو ځل اوریدلې وه.

په هر ځل چی به له نورو مجاهدینوسره د عملیاتو لپاره روانیده، تردوه رکعته نقل لمونځ وروسته به یې په دعا کی بیا بیا له خدایه د شهادت غوښتنه کوله.

هغه شهادت ته تردې اندازې لیواله ؤ چې په کومه ورځ به په عملیاتو کی ددوی دجبهې کوم مجاهد شهید یا ټپی شو، نو ده به له دې امله چې دغه ویاړ باید ده ته هم ورپه برخه شوي وای، له ډیره خفګانه سمې خبرې نشوای کولی. دوه ځل له دښمن سره په مخامخ جګړه کې ټپی شوي هم ؤ، خوله ده سره دا آرمان ؤ چې باید د خدای (ج) درضا په لاره کې شهید شم، د همدی لپاره د جهاد سنګر ته راغلی ؤ او همدغه ارزویې په زړه کې پالله.

په هغو شپو ورځوکې رحیم جان دښوونځی د لسم ټولګي زده کوونکی ؤ او ورسره یې دسیمې له عالمانو نه د مروجه دینی علومو کتابونو لوستل چې ملحدینو کود تاوکړه او چی بیا کله د دوی په سیمه کې د کمونستانو پر ضد وسله جهاد پیل کیده نودی یی په لومړیو کسانو کې شامل ؤ. د کفر او الحاد پر ضد د جهاد مینې او ایمانی جذبې هغه بیا ښوونځی ته ورپرې نښنود. او نه یې بیا دامواقع ترلاسه کړه چې ددینی علومو زده کړه بشپړه کړي. سپین ږیری پلار یې په هماغه لومړیو شپو او ورځو کی په دې خاطر چی زوی یې د دولت پرضد د خلکو په تحریکولو کې برخه لری، د ګوندي سازمان د منشی او ولسوال له خوا تر دوه ځلی اخطار وروسته د زندان تورو خونو ته واچول شو، خو چې څه موده وروسته د دوی د یو خپلوان په تضمین چی خپل زوی به دولت ته حاضروي، له زندان نه خوشې شو بیا ورته پخپل هغه کور کي چی ولسوالی ته ډیر نژدې ؤ شپی او ورځی تیرول ګران ویریښیدل، نو د هجرت لاره یې ونیوله تر دې وروسته بیا رحیم جان په پوره اطمینان د کفر او الحاد پر ضد وسله وال جهاد ته ادامه ورکړه او هم یی د تبلیغ له لارې د ډیرو خلکو ذهنونه روښانه کړل.

له همغی ورځې نه چې دی د مجاهدینو په لیکه کی شامل شوی ؤ دژوند ډیرو چارو ته یی شاکرې وه هغه چې به کله څو میاشتی وروستـه دخپل قوماندان په ډیر اصرار خپل کورته لاړ، په کمپ کې څو ورځې تیرول هم په هغه ډیر سخت تمامیدل او چې هر څو به یی مور او پلار ورته د څو شپو دایساریدو زاری منت کاوه ده نشو منلای او ځان به یی ژرترژره د جهاد سنګر ته رساوه.

هغه چې دمور اوپلارپوازینی زوی ؤ، نو ځکه یې خپلی ډیری هیلې ورپوری تړلې ګڼلې، اوددی لپاره چې د خپلی کورنی سره یې څه نا څه علاقه پیدا شی د ځینو خلکو په مشوره یې

رحیم جان ته کوژدن هم وکړه، خو هغه په دې وخت کې واده کولو ته نه و راضي هغه اوس په تهول ژوند کې یوازې او یواز ی یوه هیله درلوده او دهغې د ترسره کولو په امید یې هر څه پرې ایښې وو. هغه ته ځان د جهاد په سنگر کې ډیر داده ښکاریده او چې د خپل قوماندان له خوانه به ورته هر څنگه هدایت وشو، په عملي کولو کې یې ډیل نه کاوه.
ولسوالی ته نژدې دکنړ پر عمومی سړك د ماینونو ښخول په هغه وخت کې دومره مشکل کارؤ چې په اسانه ورته چا زړه نشو ښه کولای، خو ده څو ځل داکار وکړاو هر ځل یې دښمن ته مالي او ځاني تلفات ورواړول. د جهاد په لومړیو شپو۔ ورځوکې چې زیاتره سیمې د ملحدینوتر واك لاندې وې جبهوته اکمالات، له یوې سیمې څخه بلې ته تگ راتگ، دولس خلقو سره ارتباط ستونزور کارونه وو، خوده په ډیرې زړه ورتیا سره سرته رسول. چې چیرته به د ملحدینو سخته او قوي پوسته وه دې پرې ورختلو ته تیار ؤ، د عملیاتو په جریان کې به ډیر وخت ترې نوّر مجاهدین راغلي وو خودې به ذوروستی گولی ترچلولو پورې په خپل مورچل کې پاتې ؤ، ډیر ځل به د نورو مجاهدینوداخیال شوی و چې ښایي د شهادت آرزو یې تر سره شوې وي.
هر چیرې به د مجاهدینو اوولسي خلکو په مینځ کې دده د میړانې ،زړورتیا، تقوی اوښو اخلاقو ستاینې کیدلې دهغه کورنی غریبه وه، خوده ته خدای (ج) داسې موړ خوی ورکړی ؤ چې نه یې تر پایه قوماندان او نورو مجاهدینو سره د غنیمت په مال څه خبره پیښه شوې او نه یې کله په دې باب له چانه غونښتنه اوپوښتنه کړې وه.
په(۱۳۵۸)هـ ش کال کې چې مجاهدینو دره نور علاقه داری فتحه کوله، دده په گروپ کې شاملو مجاهدینو پکې فعاله رول لوبولی ؤ. کله چې د کنړ داولسوالی شاوخوا پوستې یوه په بلې پسې فتحه شوې او د ولسوالی د مرکز د محاصرې کړه ښه پسې تنگه شوه او مجاهدینو د ننگرهار -کنړ لوی سړك هم بند کړ، نو ددښمن له ملیشه او نورو پوځي قطعاتو څخه دلې دلې افراد له خپلو وسلو سره مجاهدینو ته تسلمیدل، د سیمې ټول مجاهدین او ولسي خلك پر دښمن باندې د فتحې اوبرې وروستی شیبې ته سترگې په لار وو.
دکوز کنړ اولسوالي چې د ننگر هار او کنړ تر مینځ پرته ده دښمن ته یې ډیر ستراتیژیک اهمیت درلود ځکه چې مجاهدینو ددغه ځای په فتح کولوسره کولای شول چې د ننگرهار او کنړ تر مینځ ځمکنی ارتباط بالکل قطع کړي.د روسانو او دهغوی د مزدور رژیم یوه لویه مشترکه قوه چې له ننگرهار نه په دې هیله راخوځیدلې وه چې دولسوالی محاصره او دکنړ -ننگرهار لویه لاره خلاصه کړی، هرو ورځ تهوله سیمه دالوتکو له خوا پرله پسې بمباري کیدله او د درنو وسلو په ذریعه شاوخوا ځایونه تراور لاندې نیول شوي وو د مجاهدینو د څو ورځنی کلك مقاومت په نتیجه کې ددښمن ډیرې وسلې اووسیلې ویجاړې شوې، یو شمیر پوځیان یې ژوبل اووژل شول او ځینو یې مجاهدینو ته پناه راوړه. داچې تهوله سیمه اواره وه او د مجاهدینو پرله پسې مقاومت هومره گټه نلرله، تصمیم ونیول شو چې مجاهدین باید شاته ولاړ شي. اوله ولسوالی څخه څلور پنځه کیلو متره وراندې په غرنی سیمه کې د کنړ پر عمومی سړك ددښمن د قواو مخه ونیسي.
ددښمن قواوی په اوومه ورځ د ډیرو زیانو نو زغملو په نتیجه کې ولسوالی ته چې له ننگرهار څخه د (۲۵) کیلو متړو په واټن واقع ده، ورسیدلې. دغه ځای کې تر دوو ورځو دمه کیدو وروسته یې دلارې د خلاصولو او د کنړ مرکز ته رسیدلو په خاطر زړه نازړه حرکت وکړ.مجاهدینو مخکې تر مخکې خپلې مورچې تینگې کړې اود نقلیه وسلو ضد ماینونه یې په سړك کې ایښې وو، په لاره یې څو نقلیه وسلې له کاره ولویدې، خو چې کله له درې څلور کیلو متره واټن طی کولو څخه وروسته هغه غرنی سیمې ته ورسیدل چې یوه خوا د غرونو لړی واقع ده اوبله خو د کنړ سیند بهیږی له هرې خوا پرې د

مجاهدینو بریدو نه پیل شول. ددښمن الوتکو که هر څو بمبارۍ ته زور ورکړ اوخرواریز بمبونه یې په لوړو وژور و وغورځول، د مجاهدینو په مقاومت کې کموالی رانغی . ددښمن په قواو کې داسې گډوډي راغلې وه چې هر چا د ځان د خلاصون لاره لټوله. ډیر زغره وال ټانکونه او نقلیه وسیلې له وارخطا یې نه سیند او کړنگونو ته ولویدلې.

تر مازیگره سخته جگړه روانه وه او چې پاتې قوا بیرته د لسوالۍ مرکز ته د ستنیدو په تکل گرځیدله مجاهدین پرې ورښکته شول. له رحیم جان سره نور کارتوس نه وو پاتې ، سرك ته دورکوزیدو سره سم یې ځان هغه حبیب موټر ته ورساوه چې په همدغه شیبه له وارخطائۍ نه د غره اړخ ته واوښت او یو روسی صاحب منصب تري په داسې حال کې چې په یو لاس کې یې مخابره او په بل کی تومانچه نیولې وه، درانښکته کیدلو کوښښ کاوه ، د «الله اکبر» په چیغه یې بیا د خپل د توپك برڅه دهغه په سینه ورننخه کړې وه. او دهغه له لاس نه یې تومانچه اخستې وه.

په همدغه وخت کې هغه دوه هلیکوپټر چې د قطار د حمایې په خاطر د سرك په سر گرځیدل په تلو تلو کې په دغه ځای د دوو بمونو په غورځولو سره له پاتې قوا سره په مخه ښه وکړه. د بمونو په چاودلو سره ډیر سخت اور ولگیدو او بیا پرله پسې چاودنې وشوې. او چې څه شیبه وروسته مجاهدینو خپل ټپیان او شهیدان لټول نو په پنځو تنو کې رحیم جان هم ؤ چې دخدای(ج) درضا په لار کې یې د شهادت آرمان تر سره شوي ؤ .

دبش او گورباچوف...

اعلامیه کې درج او اعلان کړی دا ده چې دخپلو څرگندو شوو توافقاتو او په وار وارښکاره شوو نژدیتوبونو وروستی عملی نتیجه اعلان کړی اوس.

اوپه دی لارکې خو عملا پاس یاده شوی جدی ستونزه لري.

خدای خبر زمونږ مظلوم ملت او برحقه عادلانه قضیې ته د بوش گورباچوف لخوا څومره ظالمانه اوله جنایتونوډکی توطئې او فاجعې په انتظار کې دی.

تر څو دې باهمته او باعظمته قوم او پرتمین جهاد ملاکړو په او دخپل سازش تطبیق ته لار آواره کړی. لوی خدای دې د یأس او مشکلاتو په دې خطرناك پړاوکې یو حل بیا زمونږ د مظلوم جهاد په لوري دخپل غیبی نصرت او رحم د لاس په راوږدولو افغان فاتح قوم د بیا اسیریدو له بلی فاجعی سره له مخامختیا نجات ورکړي .

آمین یا رب العالمین.

اقتصاد بیمار شوروی...

یکجا می گردند . طور مثال جرمن ها که در اثر عطش توسعه طلبی امپراطوری سرخ برای سالیان متمادی توسط دیوارضد انسانی برلین از هم جداشده بودند اکنون باردیگر باهم متحد می شوند ولی امپراطوری ضدانسانی شوروی بشدت درحالی از هم پاشیدن است رومانیا وپولیند راههای رشد اقتصادی خویش را می پیمایند درحالیکه استعمار سرخ هر روز بامشکل جدید اقتصادی مواجه می شودزعامت چکوسلواکیا اکنون مورد تمجید و حمایت ملت شان قرار می گیرند ولی زعامت کرملین هر روزبانفرت زایدالوصف مردم شوروی مواجه می گردد . انشاالله آن روزی ، بعید نیست که خالق الموجودات باردیگر همه خلایق خویش رادر مسیر درست و اصولی اش قرار داده وکج روان را محوه ونابود نماید .

د مجاهدینو د بریالیو عملیاتو په جریان کی :

د دښمن گن پوځیان او ملیشیان له خپلو وسلو سره له مجاهدینو سره یوځای شول

د پکتیا له ولایت څخه په رارسیدلو خبرونو کې ویل

شوی دی، چی مجاهدینو د خوست پر مرکز د محاصری کړی تنگه کړی . د ۱۳۶۹ ش کال د جوزا د میاشتی له لومړی نیټی څخه تر ۲۰ نیټی پوری مجاهدینو د بیلو بیلو عملیاتو په ترڅ کی دښمن ته د سر او مال درانه تلفات وراړولی دی .

د سلمان فارسی (رض) د غنډ مجاهدینو د جوزا د میاشتی په ٤ نیټه په خوست کی د دښمن پر پوستو عملیات وکړل چی د هغو په نتیجه کی یی دوه زغره وال ټانکونه تخریب کړل .

د جوزا د میاشتی په ٥ نیټه مجاهدینو د شیخ امیر په علاقداری کی د دښمن په پوستو عملیات وکړل چی په نتیجه کی یی د دښمن دری

پوستی ړنگی کړی ، دښمن ته یی د سر او مال درانه تلفات ورواړول ، او د مزدور رژیم له قواو څخه یی زیات شمیر افراد ژوند ونیول .

د دغو عملیاتو په جریان کی (٥٠) تنه مجاهدین ټپیان او (٢٤) تنو د خدای (جل جلاله) د رضا په لار کی د شهادت لوړ مقام تر لاسه کړ . (إنا لله و إنا الیه راجعون).

همدا رنگه مجاهدینو ۱۳٦۹/ ۳/ ۷ نیټهٔ د دښمن پر پوځی پوستو باندی د عملیاتو په جریان کی د دښمن له قواو څخه ۳٦ تنه ژوندی نیولی دی .

د جوزا د میاشتی په ۱۲ نیټه د دښمن له قواو څخه د دووتنو صاحب منصبانو په شمول ۱۰ تنه

عسکر له ۱۲ میله کلاشنکوف
، یو پیکا ماشیدار او یو ۵۹
A K توپ سره د سلمان
فارسی (رض) غنډ
مجاهدیو ته تسلیم شوی دی

د یو بل خبر له مخی د
پکتیا په مرکز گردیز باندی
د مجاهدینو د درنو وسلو د
انداخت له امله په سر
ماموریت کی د دښمن د
وسلو یوه ډیپو تخریب شوی
ده .
په ۱۲ / ۳ / ۱۳۶۹
نیټه د خوشال پوستی دوه تنه
صاحب منصبان او ۸ تنه
ملیشه افراد له خپلو وسلو
سره مجاهدینو ته تسلیم شوی
دی .
خبریا توی چی د تسلیم
شویو افرادو په وسلو کی یوه
مخابره ، ۸ میله
کلاشینکوف ، یو میل
څلویښت بزی او یو میل
راکټ شامل دی .

په یو بل خبر کی ویل
شوی دی چی په ۵ / ۳ /
۱۳۶۹ نیټه د خوست په
مرکز کی د مزدور رژیم د
څارندوی او گلم جم ترمنځ
جگړه شوی چی د هغه په
نتیجه کی له گلم جم څخه
دری تنه او له څارندوی څخه
یو تن ټپی شوی دی .
د جوزا د میاشتی په
۱۸ نیټه د دښمن له قواو
څخه (۳) تنه له خپلو
وسلو سره مجاهدینو ته تسلیم
شوی دی .
د جوزا د میاشتی په
۱۹ نیټه د مزدور رژیم له
قواو دوه تنه عسکر له خپلو
وسلو سره مجاهدینو ته تسلیم
شوی .
د منبع الجهاد مجلی
خبریال پدغو جگړو کی له
نیول شویو او تسلیم شویو
صاحب منصبانو ، عسکرو او
ملیشاوو سره مرکی کړی چی
دادی د هغو لنډیز درنو

لوستونکو ته وړاندی کوو .
یوه تن صاحبمنصب چی
خپل ځان جگړن محمد طاهر
د محمد ایوب زوی د کاپیسا
ولایت د تگاب ولسوالی
اوسیدونکی معرفی کوی د
خبریال د پوښتنی په ځواب
کی وایی : لومړنی تعلیم می
د مزار شریف د باختر په
لیسه کی سر ته رسولی له
هغی وروسته په هوایی
پوهنځی کی شامل شوم په
۱۳٤٥ لمریز کال کی د دریم
بریدمن په رتبه تری فارغ
شوم، په سروبی او کندهار
کی می وظیفه اجرا کړی ،
پدی وروسنو وختونو کی
خوست ته ولیږل شوم چی د
روان کال د جوزا په ۱۲ نیټه
د مجاهدینو د بریدونو په
جریان کی د دوو تنو
صاحبمنصبانو او (۸) تنو
پوځیانو په ملتیا له ۱۲ میله
کلاشنکوف او یو پیکا
ماشیندار یو59 - A K توپ

سره د سلمان فارسی رض غونډ
مجاهدینو ته تسلیم شوم .
ده له مجاهدینو سره د
یو ځای کیدو په رابطه وویل:
موږ ته د کمونستانو اصلی
بڼه راڅرګنده شوه ، د دوی
د درواغجنو وعدو او غوړو
خبرو اصلی ماهیت رامعلوم
شو . پدی تیرو څو کلونو
کی له اسلام سره د دوی
دښمنی او د دوی ظلمونه او
فجایع موږ د سر په سترګو
ولیدل ، موږ تر ډیره د دوی
د ناروا تبلیغاتو په دام کی
ښکیل شوی وو او د حقایقو
په پوهیدو سره مو له دوی
سره په زړونو کی کرکه
پیداکیده . موږ لیدل چی
دوی په زور او جبر سره
ځوانان له کورونو څخه
تښتوی او عسکری ته یی
سوق کوی ، په کلیو او بی
دفاع ولسی خلکو بمباری او
ګولی اوروي ، موږ نور دا
ټول فجایع او وحشیانه

عملیات نشوای تحمل کولی او
د یوی داسی موقع او فرصت
په لټه کی وو چی له خپلو
وسلو سره له مجاهدینو سره
یوځای شو . همغه وو چی د
مجاهدینو د ورستیو حملو په
جریان کی مجاهدینو ته
تسلیم شوو .

اوس موږ ایله د ژوند
په معنا پوه شوو ایله د
آزادی په خوند وپوهیدو ،
ایله مو انسانی کرامت
وپیژانده او په ټوله معنا مو
د اسلامی ورورولی او مینی
خوند وڅکلو .

جګړن محمد طاهر د
یوی بلی پوښتنی په ځواب

کی وویل : د مزدور رژیم د
پوځیانو مورال خورا کمزوری
دی . دوی په زور او جبر
سره عسکری ته ځوانان سوق
کوی په قشلو او پوځی
مرکزونو کی تری پرسونل
ضد ماینونه تاووی او بندیان
یی ساتی .

د ملحد رژیم تاکتیك
اوس په دروغو او عوام
غولوونکو تبلیغاتو کی
خلاصه کیدی شی . لدی پرته
بل داسی مؤثر تاکتیك نشی
اجرا کولی او یواځی د
روسانو قوماندی او اوامر
تطبیق کوی او روسی
مشاورینو او پوځی ماهرینو

ته یی سترگی نیولی وی .

ده د دغه سوال په ځواب کی چی د مجاهدینو د ورستیو حملو په جریان کی د ملحد رژیم پوځیانو ته څومره تلفات اوښتي دي وویل زما د معلوماتو له مخی ۹۰ تنه پوځیان وژل شوی او ٤ ټانکونه له منځه تللی ، یوه الوتکه تخریب شوی یوه BM 14 او یوه BM 12 دستگا له منځه تللی دی .

ده د دغه پوښتنی په ځواب کی چی په خوست کی له پوځی افرادو پرته د گلیم جم او گارډ خاص په نوم جزوتامونه هم فعال دي دا څه ډول تشکیلات لری وویل :

د گارډ خاص جزوتامونه فعلاً د اسماعیل- خیلو په سره وړی او د گلیم جم ملیشا لههوایی ډگر سره نژدی ځای په ځای دی .

په گارډ خاص کی شعوری حزبیان برخه لری چی ټول یی تربیه شوی خلقیان او په روسیه کی روزل شوی پاخه کمونستان دي .

دوی ته د پوځیانو په نسب ډیر زیات امتیازات ورکول کیږی ، پخپله نجیب دوی ته‌پزیات اهمیت او ارځښت قایل دی خو دغه ډول امتیازاتو د ټولو په منځ کی د شدید رقابت او دښمنی فضا راپیدا کړیده

ده د مرکی په پای کی وویل : زه چی د مجاهدینو په ځیرو کی کومه مینه او سپیڅلی احساس وینم - زه چی د مجاهدینو حوصلی ، عظمت او تدبیر ته نظر کوم نو په خپل تیر ژوند ډیر وشرمیږم زه پوځیانو ته د دی ډاډ او زیری ورکوم چی په کوم حیثیت موږ ته مجاهدین قایل دی هغه ما تر اوسه په بل هیڅ ځای او له هیچا سره ندی لیدلی ، پداسی حال کی چی نجیب موږ یواځی د مرگ او تباهی له پاره ساتی . هیله ده پوځیان هر ځای چی وی له مجاهدینو سره یو ځای شی ځکه همدا د دوی عزت ، وقار او ژوند تضمین کولی شی او بس .

همدا ر نگه د مجلی خبریال د تسلیم شویو

ملیشاوو له پلی څخه د خوشال پوستی نه معاون سره هم مرکه کړی . که څه هم دغه ملیشا د گلیم جم د ملیشاوو په څیر تشکیلات لری او له همغه پول مادی امتیازاتو څخه برخورداره دی او د عملیاتو روش یی هم همغه پول وحشیانه دی خو د دوی د بلوك قومندان چی د خوشال پوستی معاون هم ؤ او ځان یی فیض محمد د غلام سرور زوی او د هرات ولایت د گلدری ولسوالی اوسیدونکی معرفی کاوه ویل چی : زموږ تشکیلات د گلیم جم له تشکیلاتو څخه بیل دی زموږ قومندان معلم غنی او د هرات اوسیدونکی دی اصلی مرکز یی په کابل کی دی او په هرات کی هم قرارگاوی لری

ده وویل په هرات کی آمر سید احمد ، انورفلو حاجی غلام ، نبی او سیف الله هم دا پول د ملیشی تشکیلات لری .

ده زیاته کړه د معلم غنی د ملیشی افرادو ته له پوځیانو څخه زیات امتیازات ورکول کیږی د مثال په توگه موږ ته ویل کیدل : تاسی چی په هره سیمه حمله کوی د کورونو شتمنی ستاسی ده ، په هر څه مو چی لاس رسیږی هغه ستاسی حق دی ـ موږ به له عملیاتو پرته هم د دوکانونو ، مارکیټونو او کورونو مالونه غلا کول او لوټول .

موږ ته د چرسو ، شرابو او فحشا له پاره په هرو دوو ورځو کی ۲۵ زره افغانی له معاش پرته د جیب خرڅ په نوم راکول کیدی ، کنسرتونه به یی راته جوړول، د نڅو د رقص ، شرابخوری او فحشا مجلسونه به یی راته ترتیبول ـ زه خپله په چرسو عادت وم . د خوشال پوستی قوماندان چی ځان یی سید مرتضی د سید مصطفی زوی د ننگرهار ولایت د چپرهار اوسیدونکی معرفی کاوه ، د یوی پوښتنی په ځواب کی وویل :

زه هم د معلم غنی د ملیشاو په پله کی وم او دلته په خوست کی د خوشال پوستی قوماندان وم چی له ۸ میله کلاشنکوف ، یو میل پیکا ، یو راکټ او یوی بی سیم مخابری ، ۸۱ تنو افرادو او دوو صاحبمنصبانو سره مجاهدینو ته تسلیم شوو .

ده وویل زموږ ملیشاوو په منځ کی د چرسو ، قمار ، شرابو او نورو نشیه یی موادو استعمال بالکل عام وو

مونږ ته به یی همیشه دا تبلیغات کول چی که مجاهدینو تاسی د حملی په ترڅ کی ژوندی نیولی نو باید خپل ځانونه پخپله ووژنی خو چی دوی مو ژوندی ونه نیسی .

ده مجاهدینو ته د تسلمیدو د ورځی د خاطری په باب وویل :

مجاهدینو زموږ ډیر په مینه هر کلی وکړ ، موږ یی پخپلو غیږو کی ونیولو موږ ته یی لمونځ راوښود ، حقانی صاحب راته ډیری د پند او نصیحت خبری وکړی ، د اسلامی اخلاقو په باب یی راته اسلامی احکام بیان کړل - موږ د دوی د دا ډول مینی هیڅ تصور نه وو کړی ، په ریښتیا هم چی د انسان عزت او ابرو په اسلام کی ده ، همدا مجاهدین دی چی د انسان په ارځښت او کرامت پوهیږی او احترام یی کوی موږ دلته وپوهیدو چی موږ په څومره تروږمی کی ژوند تیر کړی دی .

دیدارسران ابرقدرتها...

میداشت امرز هرگز روس ها باگردن شکسته وموضع ضعیف درمذاکرات مسابقه قدرت شرکت نمی کردند .

درواقع آنچه امروز روس رااز تکبر ابرقدرت بود ن به زیر کشیده وبه اعتراف ضعف وزبونی اش وادارکرد سلا حها وموشك های ناتونه بود بلکه ضربات کاري مجاهدین افغانستان بود که انقلاب وتوفان در اروپا وروسیه بر پانموده است .

بهر صورت نتایج ملاقات قدرتهای بزرگ هرچه باشد به نفع ملت های دنیا نیست ملت های دنیا باید بجای انتظار ودلبستن به این نوع مذاکرات درصدد نجات خویش از پنچال ابر قدرتها برایند وبا درپیش گرفتن طریق غیر از راه حل مسایل توسط ابر قدرتها از مرد م مسلمان ومجاهد افغانستان درس آزادگی اموزند که راه نجات غیر ازین نیست .

دمزدور رژیم په زندانونو...

شکاریده د ماشین له چالانولو څخه د مخه یی د بندی خوله له مهلوجو څخه ډکوله تر څو د هغه له خولی څخه غږراونه وځی . زندانی ته به یی ویل کله چی اعتراف ته حاضر شوی کولی شی خپل سرو خو ځوی . ماشین به یی چالان کړ او ورو ورو به یی د برق د جریان شدت پری زیاتوه په نتیجه کی به بندی په ډیر بدحالت کی واقع کیده .

د دغه ډول شکنجو په جریان کی ډیرو خلکو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی . او هغوی چی له مرگ څخه نجات موندلی دی په ډول ډول روحی او جسمی ناروغیو اخته شوی دی . چی موږ د نمونی په توگه د هغی ځینی نښی نښانی لکه بی خوبی ، همیشنی سردردی ، د ذهنی او دماغی کارونو د سرته رسولو د صلاحیت نشتوالی ، بی حوصله گی ، تند مزاجی په ځان بی اعتمادی او ... په هغو خلکو چی له شکنجو وروسته له بند څخه خلاص شوی دی ، پخپلو سترگولیدلی شو .

«نور بیا»

بسم الله الرحمن الرحيم

د حق

د لارې قربانیان

شهید جګتورن خیالی محمدخان

دحق دلارې د نومیالیو مجاهدینو په ډله کې چې خاص دالله (ج) د رضا او اعلای کلمة الله په خاطر یې دکفر او الحاد پر ضد وسله وال جهاد پیل کړی او دجهاد ویاړلې کارنامې به یې دتل لپاره دافغانستان د مجاهد ملت په تاریخ کې په زرینو کرښو ثبت وي، یو هم خیال محمد د سعید اکبر زوی و چې په ۱۳۳۰ هـ ش کال دپکتیکا د ولایت ارګون دمانده په کلي کې زیږیدلی و.

لومړی خپله لومړنی زده کړه په ارګون کې سرته رسولې وه او بیا دلوړې زده کړې دبشپړولو لپاره دهیواد مرکز "کابل" ته تللی او په حربي ښوونځي کې شامل شوی و، له حربي ښوونځي څخه تر فراغت وروسته په حربي پوهنتون کې شامل او په ۱۳۵۰ کال کې له پیاده پوهنځي څخه فارغ شوی و. تر فراغت وروسته، په اردو کې دصاحب منصب په توګه په وظیفه وګومارل شو په ننګرهار، هرات، شیندند، کنړ، مزارشریف او ارګون کې دوظیفې اجرا کولو برسیره یې څه موده په قول اردو کې دانضباط دلوی قوماندان په توګه وظیفه سرته رسولې او دجګتورنې رتبې ته رسیدلی و، چې په افغانستان کې دشوروي کرغیړنه کودتا وشوه په هماغه لومړیو وختو کې دخپلې

سپیڅلي اسلامي عقیدې، ایماني جذبې او له مجاهدینو سره د ارتباط لرلو له امله د ملحدینو له خوا د زندان تورو خونو ته، واچول شو او تر شپږمیاشتنۍ با مشقته بند تیرولو وروسته له بند څخه خلاص شو او د ۱۳۵۷کال ددلوی په میاشت کې یې اسلامي هیواد پاکستان ته هجرت وکړ.

له هجرت څخه وروسته یې دخپلې سیمې د نومیالي قوماندان مولوي ارسلارحماني ترقوماندې لاندې دملحدینو پرضدوسله وال جهاد پیل کړ او وروسته یې بیا دالحاج مولانا جلال الدین حقاني تر قیادت لاندې د کمونستانو پر ضد وسله وال جهادته ادامه ورکړه.

څه موده یې دمولوي محمد حسن تر آمارت لاندې جبهې کې د قوماندان په توګه په مقدس جهاد بوخت وه، کله چې په ۱۳۶۷ هـ ش کال کې د، مولانا جلال الدین حقاني ترقیادت لاندې دسلمان فارسي (رض) غونډ تأسیس او تشکیل شو نوموړی د، غونډ د اپراسیون او پلان دآمر په توګه وټاکل شو.

دجهاد په جریان کې یې، په ډیرو جهادي عملیاتو کې برخه اخیستې او هرځل یې د پوره میړانې او ځان تیریدنې په شودلو سره دښمن ته مرګوني ګوزارونه ورکړي او ویاړلي جهادي، کارنامې یې پرځایښې دي.

بالاخره دغه نومیالی مجاهد په ۶۹/۳/۵ نیټه پر خوست باندې د مجاهدینو د عملیاتو په دوران کې له دښمن سره په یوه مخامخ جګړه کې پداسې حال کې چې ددښمن درې پوستې یې فتحه کړې وې د شهادت لوړ مقام ته ورسید.

انالله وانااليه راجعون

شهيد قوماندان شيرمحمد "شيرګی"

دکفراو الحاد پرضد دافغانستان د مجاهد ملت د جهاد دسنګر د نومیالیو مجاهدینو په

لیکه کې یو هم قوماندان شیرمحمد خان چې په "شیرګي" مشهور وه د ملك بارشاه زوی، په قوم ځدران او په ۱۳۳٤ هـ ش کال دپکتیا ولایت د ځاځیو د سکندرخیلو په کلي کې زیږیدلی وه.

نوموړی په ۱۳٤۱هـ ش کال، دسکندرخیلو په لومړني ښوونځي کې شامل شوی اوپه۱۳٤٦هـ ش کال تري فارغ شوی او بیا یې د منځنۍ او ثانوي زدکړې د بشپړولو په نیت د ځاځیو د اریوب په لیسه کې زده کړې ته، ادامه ورکړې وه. په لسم ټولګي کې و چې د ثور خونړۍ کودتا وشوه، زده کړه یې نیمګړې، پریښوده او د کمونستانو پر ضد، یې په وسله وال جهاد پیل وکړ.

دجهادپه دوران کې یې د یو پیاوړي مجاهد او نومیالي، قوماندان په توګه په ډیرومیړانه ددښمن په مقابل کې جنګیدلی، او دپکتیا ولایت په زیاتره سیمو کې یې جهادي فعالیتونه سرته، رسولي، ددین او وطن په دښمنانو یې مرګوني ګوزارونه کړي اوسخت مالي او ځاني تلفات یې وراړولي دي نوموړي دښو اخلاقو اوصفاتو،

خاوند وء او دمجاهدینــــواو
ولسی خلکو په زړونوکی یې ژور
ځای درلود. د درنو او سپکو
وسلو په استعمال کی یې پوره
مهارت درلــــود.

په ۱۳٦۳ هـ شکال دسکندر-
خیلو په سیمه کی د الحــــاج-
مولانا جلال الدین حقانی تــــر
قیادت لاندې مجاهدینودحبهی
قوماندان وټاکل شو او تقریبا "،
پنځــه کالــه یې په پـــــوره

ایمانداری ،صداقت او میړانـــــه
دغــه له مسئوولیته دکه وظیفــه،
په ښه شان سره سرته ورسولــــه.

په ۱۳٦۸ هـ ش کـــــــال
د ابوجندل (رض) په غنــــډ
کی د وسله پالی آمــر وټاکــــل
شو بیا یې هم د یوتکړه مجاهد
په توګه په ټولو جهادی عملیاتو
او پروګرامونوکې برخــه اخیستله
او له ویاړه ډکی کارنامې یــــې
بریښودلـــی .

بالاخره دحق دلاری دغــه
نومیالی مجاهد په ٦۹/۳/٥نیټه
دجمعې په مبارکه ورځ دعلیشیرو
په علاقداری او شاوخوا پوستــو
باندې د مجاهدینو د عملیاتــو
په ترڅ کی په داسی حال کی،
چې ددښمن څلور پوستی فتحه
شوې وې ،دشهادت لوړمقـــــام
تــه ورســـید.

انالله وانااليــه راجعون

شهـــیدجمـــال

د حقی لاری د مجاهدینو،
یه دله کی جی خاص د خدای
(ج) د رضا او اعلای کلمتهالله
یه خاطر یې د کفر او الحادیه
مقابل کی وسله وال جهادییـــل
کری وء یوهم جمال د حاجـــی

بدك زوی ،یه قوم حدران وءجی
له نن حخه تقریبا " ٤٥کالـــــه
یخوا د خوست د لویی ولسوالی
د (ویس خیلو) یه کلی کــــی
زیږیدلی وء.

نوموری یه افغانستان کی له،
الحاد ی کودتا څخه وروسته د
الحاج مولانا جلال الدین حقانی
ترقیادت لاندی د کفر اوالحاد،
یر ضد وسله وال جهادییل کری
وء د جهاد یه جریان کی یی
یه دیرو جهادی عملیاتوکی برخه
اخیستی او هرحال یی دسمن ته
مرکونی کوزارونه ورکری دی .

بالاخره دغه نومیالی مجاهد
د ذرکی یه جنك کی دشهادت
لورمقام ته ورسید ه.

انالله وانااليه راجعون


شهید قوماندان قربان

دهغو نومیالیومجاهدینو پـــه
ډله کې چی خاص د خدای -
(ج) د رضا او اعلای کلمةالله،
په خاطر یی د کفر او الحادپه
مقابل کی وسله وال جهادپیل
کړی او ویاړلی جهادی کارنامی،

به یی د تل لپاره د افغانستان
د مسلمان ملت دجهادپه تاریخ
کی په زرینو کرښو ثبت وی یوهم
قربان و ، چی په ۱۳۳۰ه ش ،
کال دپکتیا ولایت د یعقوبـــیو
علاقداری د صبریو د لیونخیلود
سید روحانی بابا په یوه‌سیـــده
روحانی کورنۍ کی زیږیدلی و ،.
نوموړی په ۱۳۳۸ ه ش کال
د صبریوپه لومړنی ښوونحی کـی
په زده کړه پیل وکړ او پــــه
۱٤٤٦ه ش کال کي تری فــارغ
شـو. په افغانستان کی دثـــور
دخونړۍ کودتا سره سم یــی
پا کستان ته هجرت وکړ او بیا
یی د ملحدینو په مقابل کـــی
وسله وال جهاد پیل کړ، دجهاد
په جریان کی یي په ډیــــرو
جهادی عملیاتو کی برخه درلوده
او هرځل یي پر دښمن مرګونـــی
ګوزارونه کړیدی چی دلته یی د
نمونی په توګه د خوست،شهرنو ،
ځاځی میدان ،منګل او...په،
یادونه اکـــتفاء کـــوو.
دغه نومیالی مجاهددالحاج
اکبرالدین ترقوماندی لاندی د
مجاهدینو په صفونو کي په ډیره
میړانه د سرګروپ وظیفه هم‌اجراء
کړیده .دعملیاتو په جریان کـــی
به همیشه په لومړنۍ لیکه کـــی ،
واقع و ، په ۱۳٦۳ ه ش کــــال
کی یی د ځاځی میدان پـــد
ولسوالی کی ددښمن دډیروپوستـــو
په فتحه کی فعال رول درلود .
دغه نومیالی مجاهددتعرض
دقوماندان په توګه هم په ډیره
میړانه وظیفه اجـــراء کړیده. په،
۱۳٦۸ ه ش کال کی د صبریـو
منطقی ته د تعرض د قوماندا ن
په توګه وروليږل شـو.په همدغـه
کال د صبری د کرکری پــــــه
امنیتی پوسته د تعرض به حـــال
کی ددښمن دضد پرسونل مایـــن
پـه ذریعه دشهادت لوړ مقـام
تـه ورســـید .
اناللّه انااليه راجعون

شهـیدنادرکوچـــی

شهیدنا درکوچی دافغانستان ،
په روان اسلامی انقلاب کـــــی
د شهیدانودکاروان د بهیریـــو
ناهتو او نوموړی شهید بلل‌کیږی.
دی دامان زوی او په ۱۳۲۰کال
دلوګرولایت د ابجوشی دسیمـــی ،
په یوه متدینه کورنۍ کی زیږیدلی
و ، کله چی په ۱۳۵۷ه ش کال ،
کی د روسی ګوډاګیانو له خواپه
افغانستان کی د غوایی‌دکرغیړنی
کودتا له لاری یو کمونستی نظام
مسلط کړای شو نو د اســـلام

دشمعی دغه رینښتونی پتنګ پــه
همغه کال د شهید اکبرخان‌تـر
قوماندی لاندي ددین او وطــن
ددښمنانو په ضد وسله وال‌جهاد
پیل کړ .نوموړی میړنی مجاهــد
دپکتیاولایت په اکثرمجګړو کـــی
برخه اخیستی وه. دده لــه نـــورو
مجاهدینو سره اوږه په اوږه د
ځاځی‌میدان ،خوست او نـــورو
خونړیو جنګونو کي شه په میړانه
ګډون وکړ. دغه قهرمان مجاهد
په ۱۳٦٤ ه ش کال‌دخوست په
سیمه کي د توری غاړی پــــه
مشهوره جګړه کی ددښمن پـــه
یوه بی رحمه ګولۍ ولګید او د،
شهادت لوړمقام ته ورسید .
اناللّه وانااليه‌راجعون



شهید محمدیوسف

دهغو نومیالیو مجاهدینو په ډله کې چې ویاړلي جهادي کارنامې به يې د تل لپاره د افغانستان د مجاهد ملتدجهاد په تاریخ کې په زرینو کرښو ثبت وي يوهم شهید محمد یوسف د حاجي محمد زوی و، چي په، په قوم سلطان خیل او تقریبا" ۱۸ کاله پخوا د پکتیا ولایت د خوست د لويي ولسوالۍ دوزري، په کلي کې زیږیدلی و۰ .

نوموړی په ډېر کم سن دکفر او الحاد په مقابل کې وسلهوال جهاد پیل کړی او د الحاج - مولانا جلال الدین حقاني تر، قیادت لاندې مجاهدینو سره یو ځای يې د پکتیا ولایت دزیاترو سیمو په جهادي عملیاتو کې برخه آخیستي وه ،او هرځل یې په جګړو کې د پوره مېړانې په ښودلو سره ددین او وطن دښمنانو ته مرګوني ګوزارونه ورکړ ی مالي او ځاني تاوانونه يې ور اړولي دي.

بالاخره دغه زړه ور مجاهد په داسې حال کې چې دنومیالي قوماندان ابراهیم حاجي تر قوماندې لاندې يې جهادکاوه د ۱۳۶۸ ه ش کال د کوچنی اختر په میاشت کې د شهادت لوړمقام ته ورسید .

انالله وانااليه راجعون

دشهید ملا عبد الوکیل لنډه پېژندنه

شهید ملا عبد الوکیل(مجروح) دشهید مولوی محمود زوی چي په ۱۳۳۱ ه ش کې دپکتیا ولایت د ځدرانو د فخري د ملایانوپه کلي کې زیږیدلی و۰.

نوموړی خپلې دیني زده کړې له خپل پلار محمود لالا څخه او څه درس يې د شهید مولوی فتح اله څخه په حقانیه کې او هم د مولوی جلال الدین حقاني څخه په نکه کې زده کړه ترسره کړې وه

کله چي په افغانستان کې، دثور توره کودتا وشوه ،نو ملا - عبدالوکیل په هماغه لومړیوورځو کې په وسله وال جهاد پیل وکړ او دجهاد په دوران کې په ډیرو مهمو جګړو لکه د زرمت ولسوالي باندې حمله ،دارمې - فتحه ، تعمیر جګړه ،شواك - علاقداری جګړه ، زمری کځدقوی فتحه ،ځدرانو کې د روسانو وحشیانه حملې په مقابل کې جګړه ،تندانو د دوهمې یوستې فتحه او نورو جګړو کې مهم رول لوبولی دی .



خو کله چې ملاعبدالوکیل ، (مجروح) د بنوزی د پوستو نیولو د پاره پروګرام جوړاوه ، ژوند ورسره وفا ونکړه او دموتهر د چیه کیدو په پیښه کې په ۱۳۶۸/۸/۱۰ نیټه د شهادت ،

لوړ مقام ورپه برخه شو، روح دې ښـــاد وی .

اناالله واناالیه راجعون

شهید نورولی

شهید نورولی د شهیدحضرت ولی زوی د کنړ ولایت د اسمار ولسوالۍ د ناړی علاقداری کې په ۱۳۴۲کال زیږیدلی و .

نوموړی خپله لومړنی زدکړه دخپل کلي په ښوونځی کی سر ته رسولی وه کله چی په افغانستان کی د ثور خونړی کودتا وشو ه نو شهیدنورولی په ۱۳۵۸ کال د خپلی کورنۍ سره دپاکستـــان ، اسلامی خاوری ته هجرت وکړ او دجندول په علاقه کې پـــه تورکیمپ کی میشته شول او بیـا یی د کیمپ په ښوونځی خپل ، تعلیمات تر سره کـړل .

دغه په اسلام او وطن مین وروړ دجهادسره دزیاتی میـــنی په درلودلوسره په ۱۳۶۸/۹/۱۷، کال کی خپل ځان دعبدالله بن۔ مبارك (ض) په حربی پوهنتو ن کی شـــامل کړ.

کـله چی مجاهدینو دپکتیـا ولایت دخوست په لویه ولسوالۍ، عملیات شروع کړل نودحـربـــی پوهنتون محصلینو او منسوبینوهم دخپلی اسلامي جذبی له مخی ، په دغو عملیاتو کې برخـــــه واخیسته چې په دغه عملیـا تو کی زړور مجاهد نورولی پـــه ۶۸/۱۲/۲۰ نیټه دشهادت لو ړ مقام ته ورسید .

اناالله واناالیــه راجعون

شهیدمحمد ظاهرخان

شهید ظاهر خان دګل محمد خان زوی وچی دکنړ ولایـت، د اسمار ولسوالۍ د شولتن پـه کلی کی په ۱۳۴۴ هـ ش کـال ، زیږیدلی و .

نوموړی د خپل کلی پـــه ښوونځی کی زده کړه کوله چــی په افغانستان کی دثور تــو ره کودتا وشوه ،زده کړه یی نیمګړی، پریښود ه اوپه ۱۳۵۸ هـ ش کال ، یي دپاکستان اسلامی خاوری ته هجرت وکړ او دراغګانو په کیمپ

کی میشت شو .بیایی ددوهـم ځل لپاره ځان د کیمپ په ښوونځــی کی شامل کړ ترځو د دولسم ټولګی څخه فارغ شو.

څرنګه چی له جهادســره یي ډیره مینه درلوده نوخپـل ځان یي د عبدالله بن مبارك (رض) په حربی پوهنتون کی شامل کـړ کله چی مجاهدینو د پکتیاولایت دخوست په لویه ولسوالی عملیات شروع کړل ،نو دحربی پوهنتون، محصلینو او منسوبینو هم پـــه دغه عملیاتو کې برخه واخیستـه چی په نتیجه کی محمدظاهر خان په ۶۸/۱۲/۲۰نیټه دشهادت لوړ مقام ته ورسید.



شهید خیرالله

شهید خیراله د نامتو قوماندان سلطان علي زوی وُ چې په ١٣٤٤ هـ ش کال دکنړولایت، داسمار ولسوالۍ د بارګام په کلي کې زیږیدلی و۰. کله چې په افغانستان کې د ثور توره کودتا وشوه نوخیرالله چې داتم ټولګي زده کوونکی و۰ ښوونځی یې پریښود او دخپل، فامیل سره یې پاکستان ته هجرت وکړ او دهجرت سره سم یې په وسله وال جهاد بیل وکړ. څه وخت وروسته یې د پلارپه غوښتنه بیا تعلیم شروع کړ، ترڅو په ١٣٦٧ کال د دولسم ټولګي څخه فارغ شو. د جهادسره د ډیری مینې په لرلو سره د ٦٨/٩/١٧ شنبه د عبدالله بن مبارك (ض) په حربي پوهنتون کې شامل شو. د څلور میاشتې تعلیم څخه وروسته ددغه پوهنتون منسوبین او محصلین کله چې دپکتیا ولایت د خوست په لویه ولسوالۍ عملیات کیدل دوی هم پدغو عملیاتوکي برخه واخیسته او په ٦٨/١٢/١٩ نیټه دشهادت لوړمقام ته ورسید.

انالله وانااليه راجعون

شهید الهام الله

شهید الهام اللهمدمولوی سیدحکیم زوی و۰ چې دننګرهار ولایت دغني خیلو په ولسوالۍ کې په ١٣٤٠ هـ ش کال کې زیږیدلی و۰.

نوموړی په ١٣٥٨ هـ ش کال د خپلی کورنۍ سره دپاکستان اسلامي خاورې ته هجرت وکړ اوله هجرت سره سم یې ددهریانو په مقابل په وسله وال جهاد بیل وکړ.

نوموړی دجهاد سره ډیری مینې او دجهاد دمنظم کید و په خاطر په ٦٨/٩/١٧ شنبه د عبدالله بن مبارك (رض) په حربي پوهنتون کې ځان شامل کړ.



کله چې مجاهدینو دپکتیا ولایت د خوست په لویه ولسوالۍ عملیات بیل کړل نو دحربي پوهنتون محصلینو او منسوبینوهم دخپلی اسلامي جذبې له مخې په دغه عملیاتو کې ګډون وکړ، چې دعملیاتوپه جریان کې په ٦٨/١٢/٢٠ نیټه دشهادت لوړ مقام ته ورسید.

انالله وانااليه راجعون

شهید محمدانور

دحق د لارې د مجاهدینوپه ډله کې یو هم محمدانور د مولوی عبدالمتین زوی و۰ چې په ١٣٤٦ کال د روژې په ٢٨ نیټه د پکتیا ولایت د ځدرانو د فخري دملایانوپه کلي زیږیدلی و۰. نوموړي لومړني مروجه دیني،

علوم له خیل تره مولوی محمود
لالا څخه لوستی وو او بیا وروسته
یی په میرانشاه کې دقازی صاحب،
شاه څخه هم زده کړه کړی وه.
کله چی په افغانستان کې د
ثور خونړی کودتا رامنځ ته شوه،
که څه هم په دغه وخت کی
محمد انور دسن په لحـــاظ
کوچنی و، خو اسلام او جهاد
سره مینی هغه د جهاد سنگـر
ته وروست. د شهید مولوی
فتح الله حقانی سره یوځای یی
په ډیروجهادي عملیاتو کی برخه،
اخیستي وه او ددین او وطن پر،
دښمنانو یی مرگونی گوزارونه کړی
وو. کله چې مولوی فتح الله حقانی
شهید او مولوی عبدالوکیل زخمی
شو نو نوموړی د جبهی دمعاون
په صفت په پوره ایمانداری سره،

وظیفه سرته رسوله. دی ایم ۱۲
په حلولو کې یی پوره مهارت
درلود.
د ډبگی، لیزه، بړی، ځاځی -
میدان، شهر نو او ارگون پـه
جنگونو کی یې پوره میړانـــــه
ښودلی وه.
کله چی په ۱۰/ ۸/ ۱۳۶۸ نیټه
عبدالوکیل مجروح شهید شـــو
نو د الحاج مولانا جلال الدین،
حقانی له خوا د خپلی جبهـی
آمر وټاکل شو.
بالاخره ۱۳۶۸/۸/۲۹ نیـټه
په داسی حال چی ددښمن پر،
یوی پوځی پوستې باندی دعملیاتو
د پروگرام د تطبیق په تکل کې و
ددښمن له خوا د اینبودل شوی
ماین په دریعه دشهادت لوړ مقام
تـه ورسـید.
اناالله واناالیه راجعون

شهـیدمیرال خیل

دهغو مجاهدینو په ډلـــه،
کی چی خاص دخدای (ج) د
رضا اواعلای کلمته الله پــه،
خاطر یی دکفر اوالحاد پرضـد
جهاد پیل کړی دی یو هم میرال
خیل و، نوموړی دسرپادشاه زوی
دمنگلو دجانی خیلو د ولسوالی
دبلخیلو دقوم دمندی خیلو د



کلی اوسیدونکی و.
دغه ننگیالی مجاهد دخپـل،
وسله وال جهاد په جریان کـې
په دیروعملیاتو کې برخه اخیستی
وه او هرځل یې دښمن ته دسـر،
او مال درانه تلفات وراړولـی وو.
بالاخره دحق دلاری دغـه
تکړه مجاهد په ۱۳۶۷/۲/۲۲ نیټه
ددښمن پر یوې پوستې باندی دورځو
په وخت کی ددښمن له خوا د
اینبودل شوی مین په ذریعـه د،
شهادت لوړ مقام ته ورسید.
اناالله واناالیه راجعـون

شهید حکیم خان

شهـید حکیم خان د مراج -
الدین زوی اوپه ۱۳۴۶ هـ ش د
پکتیا ولایت د حوست په لویـه
ولسوالی د دلبوری په کلی کـی



زبېدلی و٠.
نوموړی په افغانستان کی د کمونستی رژیم د راتګ سره سم مهاجر شو او لههجرت څخه وروسته د مولوی جلال‌الدین حقانی تر قوماندې لاندې په وسـلـه وال جهاد بیل وکړ او دجهاد پـه دوران کی یې د پکتیا ولایـت په اکثرو جګړو لکه د توری غاړه لیژه تانه فتحه ،بړی تانی فتحه زرمنکی پوستو ،سنکی ،درګې او، نورو جهادی عملیاتو کی مهـم رول لوبولی دی.
بالاخره په ٦٨/٩/١٤ نیټـه په توره غاړه کې دیوه مایـن د چاودلو له امله دشهادت لـو ړ مقام ته ورسید.
اناالله وانااليه راجعـون

شهید ګلالی

شهید ګلالی د آبازوی په قـوم کوچی د لوګر ولایت دبرکي برك د ولسوالی په یوه دیندار کورـ نۍ کی زیږیدلی و٠.
کله چې په افغانستان کـې د ثور توره کودتا وشوه نوموړی د خپلې کورنې سره د پاکستـان اسلامی خاوری ته هجرت وکړ او دهجرت نه وروسته یې د شهید، منان کوچي سره یوځای پـه وسله وال جهاد بیل وکړ.دجهاد په دوران کی یې ملحدینوتـه

زیات ځانی او مالي تاوانونـه اړولـې دی .
بالاحره په ١٣٦٨/١١/٢٧ نیټه د توری غاړې په جګړه کې دشهادت لوړ مقام ته ورسید.
اناالله واناالیـه راجعـون

شهیدولی مت خان

دحق دلاری قربانی پیـر- ولیمت خان د مهرجان زوی په ١٣٥٠ هـ ش کال دپکتیا ولایت، دخوست په لویه ولسوالی دغوری پیراتو په کلی کی زیږیدلی و٠.
نوموړی دپکتیاولایت په اکثرو جګړو کی فعال رول لوبولي او ملحدرژیم ته یې زیات ځانی او مالی تاوانونه اړولی دي.
بالاخره دغه زړور مجاهد په، ٦٨/٩/٦ نیټه د توری غاړې په جګړه کی دشهادت لوړ مقام تـه ورسـید .
اناالله واناالیه راجعـون

دشــهید محـمد ســعید
لنده پیژندنه

په اسلام او وطن مین ـ مجاهد محمد سعید دعبدالرشید زوی دپکتیا ولایت د خوست دلوېي ولسوالۍ د کمکی مزغور ه کلی کی په ۱۳۲٦/۹/۲۵ نیټه زیږیدلی و ٴ .

نوموړی دثور د توري کودتا ، څخه وروسته پاکستان ته هجرت وکړ او دهجرت څخه وروسته يې د شرین جمال قوماندان ترقوماـ ندي لاندې په وسله وال جهاد پیل وکړ ،دجهاد په دوران کې يې په دښمنانو مرګونی ګوزارونـه کړی او ددین دښمنانو ته يې ، ځانی او مالي تاوانونه اړولــی دي .

بالا خره د درګیږد لوړی جنګ کې ددښمن د توپ پـــــه ګولی ولګید او دحق د لارې د شهیدانو له کاروان سره یوځای شو.
اناللہ وانا الیہ راجعون

شهید عبدالکاظم

شهید عبدالکاظم دعبدالصمد زوی د فاریاب ولایت د پښتون ـ کوټ ولسوالی کې په ۱۳٤٦ هـ ش کال زیږیدلی و ٴ.

نوموړی په ۱۳٦٤ هـ ش، کال دایران اسلامی جمهوریت ، ته هجرت وکړ او دایران څخــه د بیرته ستنیدو په وخت کې په ۱۳٦۷ هـ ش کال د ملحدینـــو له خوا ونیول شو او په جبرسره عسکرۍ ته سوق شو، خودعسکر ی، په جریان کی دمجاهدینوسره د همکارۍ په تور ددهري حکومت له خوا په ۱۸ کاله قید محکو م شو، بدغه وخت کی له ده سر ه څلورونورو عسکرو مرسته وکــړه او عبد الکاظم سره دڅلوروعسکرو دمجاهدینوسره یو ځای شــول ، او دسلمان فارسي(رض) په غندکـــي يي په وسله وال جهاد پیل وکړ دجهاد په جریان کي يي زرهبوش ټانک چلاوه او ملحدینو ته يـي دیرزیات مالی او ځانی تاوانونه

اړولی دی .
بالاخره په ٦۹/۳/٥ کال کی د چنار پوستی باندی دتعرض په وخت کې د دهریانوله خــوا ، وویشتل شو اودشهادت لوړمقا م ته ورسید .
اناللہ وانا الیہ راجعون

شهید خیال ګل

شهیدخیال ګل دترین زوی، په قوم کوچی او په ۱۳٤٥هـ ش کال دلوګر ولایت په برکی بـــرك ولسوالۍ کی زیږیدلی و ٴ.

کله چی په افغانستان کــی د ثور توره کودتا وشوه ،نوموړی دپاکستان اسلامي جاوری تـــه هجرت وکړ او دهجرت سره سم يې په وسله وال جهاد پیل وکړ دجهاد په دوران کی کموسـتی



رژیم ته زیات ځاني او مالـــي تاوانونه اړولي دي.

بالاخره په ۲۸/۱/٦۸ نیټه دپکتیا ولایت کې دتورې غاړې په سختو عملیاتو کې دشهادت، لوړ مقام ته ورسید.

شهید موسی خان

شهید موسی خان د تورګل زوی د پکتیا ولایت دوزې ولسوالۍ د فخری د کلي اوسیدونکی په قوم ځدران، په ۱۳۱۸ کال په یوه دینداره کورنۍ کـــې، زیږیدلی وء.

کله چې په افغانستان کې د نور توره کودتا وشوه، نوموړي په هماغه اول وخت کې د الحاج مولوی جلال الدین حقاني تـــر قوماندې لاندې په وسلـــه وال جهاد پیل وکړ او دجهاد پـــه دوران کې یې روسانو اودهغوی رژیم ته زیات ځاني او مالـــي تاوانونه اړولي دي.

بالاخره دغه نومیالی مجاهد په ۱۳٦۸ ه ش کال د خوست، د درګۍ په منطقه کې په داسي حال کې چې نور مجاهدین هم ورسره په موټر کې سپاره وو د

کمونستانو له خوا پرې ډیرې ډزې وشوې او دشهادت لوړ مقـــام ته ورسید.

اناالله وانااليه راجعــــو ن

شهـــــیداحمدشاه

شهید احمدشاه خان دپیرغفا ر، خان‌زوی د پکتیا ولایت دخوست د لویې ولسوالۍ د لغړی پیرانـــو د کلی اوسیدونکی دی چې پـــه ۱۳٤۷ ه ش کال کې‌زیږیدلی‌وء.

نوموړی دوه کاله د تهیوپـــه ښوونځي او شپږکاله د خوست په لویې ولسوالۍ کې زده کړې تـــر سره کړې وې چې په افغانستان، کې د ثور کرغیړنه کودتا وشوه.

شهید احمدشاه خان‌دخپلې کورنۍ سره پاکستان ته مهاجـــر شو او دهجرت څخه وروسته یې، د مولوی جلال‌الدین حقاني د، قیادت لاندې په وسله وال‌جهاد پیل وکړ.

نوموړی دپکتیا په ډیرو، جګړو کې لکه د لیژه، سنکـــیو، پوستو او دخوست ولسوالۍ پـــه پوستو باندې په ډیره میړانـــــه جنګیدلی دی.

بالاخره د درګۍ دفتحـــي

څخه وروسته د الیم په قرارګاه
کې ددښمن له خوا په ۸/۷/۱۷ ٦
نیټه د شهادت لوړ مقام ته
ورسید.

اناللّه واناالیه راجعون



شهید حاجی عجب

شهید عجب ګل دیعقوب
خان زوی د ځاځیو دآریوب د
لیونیو قوم دکوتکی کلی اوسیدونکی
په ۱۳۱۱ هش کال کې
زیږیدلی ؤ
کله چې په افغانستان کې
د روسا نو ګوډاګیان قدرت ته
ورسیدل نو حاجی عجب ګل،
چې د ورکتوب څخه داسلامي
اخلاقو خاوند وء دجهاد په
اوله مرحله کې یې په وسله وال
جهاد پیل وکړ.

نوموړی د پکتیاولایت د
سرحدی تاڼو په جګړو او نورو
ځایونو کی په میړانه سره
جنګیدلی دی.
بالاخره کله چې کمونستانو
په ۱۳۵۸ هش کال دعلي خیلو
ولسوالۍ محاصره کړه نو حاجي
عجب ګل ددهریانو سره په یوه
مخامخ جګړه کې د٤٧ کلو
په عمر دشهادت لوړ مقام ته
ورسید.

اناللّه واناالیه راجعون

شهید احسان الله

دحق د لارې تکړه مجاهد
شهید احسان الله د ګران زوی
وء چې په ۱۳٤۱ هـ ش کال د
پکتیا د ولایت د ځاځیو دهاشم
خیلو د قوم د مریخیلو په کلي
یې سترګې نړۍ ته غړولې وې.
تر پنځم ټولګی پورې زده
کړه وکړه، خود ژوند اقتصادي
مشکلاتو یې د لوړی زده کړې،
مخه ونیوله.
کله چې په افغانستان کې
د ثورخونړی کودتا په نتیجه کې
ملحد او وطن فروش کمونستان،
(خلقیان او پرچمیان) قدرت
ته ورسیدل او په مقابل کې یې
د افغانستان مؤمنو خلکو په
جهاد پیل وکړ، په دې بهیرکی
یو هم احسان الله خان ؤچې،
دپیاوړی او ستر مجاهد مولانا
جلال الدین حقانی او شهید



مولوی فتح الله حقانی تر قیادت
لاندې یې په وسله وال جهاد،
شروع وکړه او دپکتیادولایت د
جهاد په بیلابیلو تودو سنګرونو
لکه سید کرم، ګردیز او شهرنو،
کی ددښمن په مقابل کی په میړانه
او زړورتیا سره وجنګید، ترڅو،
چې دحق د لارې دغه پیاوړی
مجاهد د ۱۳٦۸ هـ ش دسرطان
د میاشتې په ۲۲ نیټه د لوی
اختر په ورځ خپلو مجاهدوورونو
ته داکمالاتو رسولو په حال کی
د شهادت لوړ مقام ته ورسید.

اناللّه واناالیه راجعو ن

شهیدعبدالمنان

داسلام دحق‌لاری دمجاهدینو په لیکه کې یوهم عبدالمنان دمولوی محبنور زوی وُ.

نوموړی دپکتیادولایت دمنگلو د ولسوالۍ دجانی خیلو اوسیدونکی وُ. دځاځی میدان په سیمه کی یې دکفر او الحادپر، ضد خپل وسله وال جهادپیل، کړ. ددښمن برضد یې په ډیرو عملیاتوکې برخه اخیستی وه اوپه دیرهیرانه او زړورتیا سره یې د خدای (ج) درضا اواعلای‌کلمته، الله په لارکې جهادکاوه بالاخره دغه ننگیالی مجاهدپه ۶۷/۳/۱۲ نیټه داتلس کالو په عمر ځاځی میدان ته نژدې ددښمن دمینې‌په ذریعه دشهادت لوړ مقام تەورسید.

انالله وانا الیه‌راجعون

شهید رفیع الدین

شهید رفیع الدین دمولو ی نیك محمد زوی وُچی دپکتیا ولایت دخوست د لویې ولسوالۍ اوسیدونکی په قوم حیدرخیل او په ۱۳۴۵ هـ ش کال کی‌زیږیدلۍ وُ.

نوموړی شهید د تره کی د کمونستی رژیم د راتگ سره سم په وسله وال جهاد پیل کړی وُ او د جهاد په دوران کی یی دهری حکو مت ته زیات ځانی او مالي تاوانونه‌اړولی دي .

بالاخره په ۶۸ /۷/۷ نیټه د جمعی په ورح کله چی ، مجاهدینو د شیخ امیر په علاقدارۍ حمله وکړه دکمونستانو



سره په مخامخ جگړه کې‌دشهادت لوړ مقام ته ورسید .

انالله وانا الیه راجعو ن

شهید سردار خان

د اسلام د حق د لار ی د قهرمانو قربانیانو له جملې‌نه یو هم سردارخان د حاجی-غلامی زوی وُ چی له نن‌نه (۲۸) کاله پخواد لوگرد ولایت د کلنگار په سیمه کی زیږیدلی وُ .

نوموړی په ۱۳۶۱ هـ شکال کی د زرمنکی په سیمه کی‌دملحد دښمن په مقابل کی وسله وال-جهاد پیل کړ ،د جهاد په دوران کې د جلالی پوستی د فتحه کیدلو په وخت کی‌ددښمن په مرمۍ زخمی شو.خو کله چی یې شفا وموندله بیرته د جها د سنگر ته ورغی او له پخوا څخه په لوړه روحیه او مورال یې د دښمن په مقابل کی جهادته ادامه ورکړه .

نوموړی دجهاد په دوران کې د ملحدینو پرضد په ډیرو عملیاتوکې برخه اخیستی، چې دلته یې دسنګی د پوستی د فتحه کولو، د توری غاړې د نیولو او خرڅینو باندی دبریا ـ لیو عملیاتو یادونه کوو.

بالاخره دغه تکړه مجاهد د ۱۳٦۷ هـ ش کال د دلوی د میاشتی په وروستیو شپو او ورځو کی ددښمن له خوا د، ابښودل شوی ماین په ذریعه د شهادت لوړ مقام ته ورسید.

انالله وانا الیه راجعون

شهید عبدالرحیم جان

د اسلام د حقې لاری د، زړورو مجاهدینو له جملی څخه چې خاص د خدای (ج) درضا، اواعلای کلمة الله په خاطر یې وسله وال جهادپیل کړی وٍ یو هم عبدالرحیم جان د نورنګ، خان زوی وٍ چی په ۱۳٤۳هـ ش کال د پکتیا ولایت د وزی د ولسوالۍ د سروخیل په کلی کی زیږیدلی وٍ.

نوموړی د پکتیاولایت په ډیرو سیموکی په میړانه دملحدو، روسانو او د هغوی د نوکرانو په مقابل کې وسله وال جهادکړی دی.

بالاخره دغه نومیالی مجاهد دخیل عمر په ۲٦ کال په ۱۳٦۸/۱۲/۱۵ نیټه دشهادت ـ لوړ مقام ته ورسید.

انالله وانا الیه راجعون

شهید جلات خان

شهید جلات خان دالمرخان کوچی زوی چې په ۱۳٤۸ هـ ش کال د لوګر ولایت دبرکی برك په ولسوالۍ کې زیږیدلی دی.

نوموړی شهید د تره کی د کمونستی رژیم د راتګ سره سم د خیلی کورنۍ سره پاکستان ته را مهاجر شو د جهادسره د ډیری مینې په لرلو سره یې په ډیر ورکختوب کی د مولوی جلال الدین حقانی تر قیادت لاندی په وسله وال جهادپیل وکړ.

شهید جلات خان دپکتیا ولایت په اکثرو جنګونو کې برخه درلوده چې دهغی څخه یې د، زرمنکی، برې، لیژه او توره غاړه په یادونه اکتفاء کوو.

بالاخره جلات خان د دروازګی دپوستی په عملیاتو کی ددهریانو سره په مخامخ جګړه کې د، شهادت لوړ مقام ته ورسید.

انالله واناالیه راجعون

شهید اکبر خان

شهید اکبرخان درسول خان، زوی په قوم صاحب خیل کوچی، اوپه ۱۳۳۹ هـ ش کال دپکتیا ولایت دخوست په لویه ولسوالی، کی زیږیدلی وٍ.

نوموړی په افغانستان کی د کمونستی رژیم د راتګ سره سم

اسلامی هیواد پاکستان ته هجرت
وکړ، او سمدستي یی دمولوی-
جلال الدین حقاني تر قوماندی
لاندی په وسله وال جهاد پیل،
وکړ دجهاد په دوران کی‌یی دهری
دولت ته زیات ځانی او مالی،
تاوانونه اړولی دي .

بالاخره ٦٨/١/١ نیټه د
جلالی په پوسته د حملی په
وخت کی د دښمن د توپ په
مرمی ولګید او دشهادت لوړمقام
ته ورسید .

اناالله واناالیه راجعون

شهید طالب العلم وزیر گل

دحق دلاري قرباني وزیرګل
د محمد زوی په قوم زنه‌خیل
او دپکتیا ولایت د دزګی‌ولسو-
الی دکلند په کلي کی‌زیږیدلی ؤ.

نوموړی په ١٣٥٨هـ ش کال
په وسله وال جهاد پیل کړی ؤ
او دجهاد په دوران کې یې د
حجریم په جنګونو، خوست
وازی، بړی تاني، شیخ امیر -
توري غاړي، ژوره، شهرنو، -
ځاځی میدان، ډبګی او نادر-
شاه کوټ په عملیاتو کې مهم
رول لوبولی دی .

بالاخره دغه زړور مجاهد د
نادرشاه کوټ په عملیاتو کې د

شهادت لوړ مقام ته ورسید .

اناالله واناالیه راجعو ن

شهید عبدالستار

دحق د لاری قربانی عبد-
الستار د حاجي وریښمین زوی،
او دپکتیا ولایت دزرمت ولسوالی
د خواجه فتح اله صاحب کلي

کی په ١٣٤٧ هـ ش کال کی
زیږیدلی وء.

نوموړی په ١٣٦٤هـ ش کال،
په وسله وال جهاد پیل وکړ
او دجهاد په دوران کې یی
ملحد حکومت ته زیات ځانی او
مالي تاوانونه اړولي دی.

بالاخره په ١٣٦٦هـ شکال،
د تعمیر ولسوالی د خوښی‌خیلو
په کلی کی ددښمن سره په یوه
مخامخ جګړه ددښمن د توپ په
مرمی ولګیداو د شهادت لوړ
مقام ته ورسید .

اناالله واناالیه راجعون



بسم الله الرحمن الرحيم

نبوي ارشاد

حضرت ابوذر غفاری (رض) وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دی : «په هر بنيادم باندې هره ورځ صدقه ورکول لازم دي» عرض وکړای شو : ای دالله رسوله! له موږ سره خو څه نشته څه به صدقه ورکوو؟

پيغمبر (ص) وفرمايل : «د صدقې ورکولو او ثواب ګټلو لارې ډېرې دي سبحان الله ويل، الحمد لله ويل، الله اکبر ويل، خلکو ته د نېکۍ نصيحت کول او له بدو کارو څخه منع کول، د لارې نه د ضررسوونکو شيانو ايسته کول، کاڼه ته په زوره خبره کول، ړانده ته لاره ښودل، د حاجتمندانو رهنمايي کول، مصيبت ځپلي فرياد کوونکي ته په منډه منډه ځان رسول، او د کمزوري ښځې پخپلو اوږو راخيستل داټول هغه کارونه دي چې که سرته يې ورسوئ نو د مالي صدقې هومره ثواب به مومئ.»